ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الاية

دعوت

د توحید او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

۳۸ گڼه

لکه څنگه چې نړیوال کفر د مجاهد او عالم نوم د خپلو طاغوتي دسیسو ښکار کړل، الله دې نکړي چې اوس د دیني طالبانو د اسپيڅلي نوم بدنام نه کړي

چیچنیا د افغانستان په شان د روسیې د هلاکت یو بل میدان دی

د روژې د مبارکې میاشتې فیوضات او برکات

الهی فرمان

قال الله تعالیٰ: قل أطیعوا الله و أطیعوا الرسول فإن تولوا فإنما علیه ما حمّل و علیکم ما حملتم♥ و إن تطیعوه تهتدوا♥ و ما علی الرسول إلا البلاغ المبین.(النور-54)

ترجمه: ای محمده !(صلی الله علیه وسلم) ته دوی ته ووایه چی په هر څه کی د الله تعالی حکم و منئ او په هر څه کی د الله تعالی د رسول حکم و-منئ، که تاسی (د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت څخه) مخ و-گرځوی، نو بیشکه زما پر دغه رسول باندی د ابلاغ هغه بار دی چی پر دی ایښودل شوی او پر تاسی باندې (درسول الله اطاعت) هغه بار دی چی پر تاسو ایښودی شوی، نو که تاسی د الله تعالی د رسول اطاعت وکړئ سمه لار به ومومئ او پر رسول صلی الله علیه وسلم باندی د الهي قانون دابلاغ ښکاره او واضحه رسونه ده (چی په بشپړه توگه ئی په پوره امانت داری سره اداء کړی ده).

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشيخ سميع الله
خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

اووم کال پرله پسي گڼه (٣٨) ١٤١٥ هـ ق کال رجب المرجب شعبان المعظم او رمضان المبارك مياشتي

دهيئت تحرير تر نظارت لاندي

ددی گڼی مطالب

عنوان	مخ
* طالبانو تحريك او د افغانستان (سرمقاله)	٢
* دروژي د مبارکي مياشتي فيوضات	٦
* پاکستان ته د کنړ او نورستان	١٢
* چيچنيا د افغانستان پشان	١٤
* نماز تراويح	١٨
* د الله تعالى نه شکر (سيرندرسينگ)	٢١
* جذام	٢٣
* دستر گو ليدلي حال (شعر)	٢٦
* غوره وينأوى	٢٧
* د نړۍ سُني مسلمانانو	٣٠
* ليدلي اوريد لي	٣٢
* پرسشهاى شما	٣٥
* د صحابوٌ ژوند ته يوه کتنه	٣٨
* د نبوي ملغلرو اميل	٤٣
* د ديني طالبانو تحر يک	٤٥
* ستاسو ليك راورسيد	٤٧

په پاکستان کی د
کدون بيه:
مياشتنی: ١٠کلداری
کلنی: ١٠٠کلداری

په نورو بهرنيو هيوادونوکی د
کدون بيه:
مياشتنی : ٢ امريکائی ډالر
کلنی : ١٠ امريکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زمونږ
نمايند کان

په داخل کی : لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد :
پيښور : غنی الله «مسلم»
لاهور : حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوټه : عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشی

په نورو بهرنيو هيوادونو کی زمونږ
نمايند کان

سعودی عرب
امريکا : عبدالرحمن احمد
بريطانيا : منور علی
جرمنی : وائی - ايم حميم
هالينډ : عماد الدين بکری اسماعيل

مکاتباتی پته :«دعوت مجله»- پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان
بانکی حساب: افغان اسلامي خبری اداره - اکاونټ نمبر ٧-٦٣-١٠ -نيشنل بينك اف پاکستان صدر رود -

سرمقاله

د طالبانو تحريك او د افغانستان كشاله

د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت چې پوره څوارلس كاله ديو ستر نړۍ وال ځواك په مقابل كې په ميړانه وجنګيد او د كمونيزم منحوس طلسم ئې دتوحيد په حقانيت دتاريخ تورى كندې ته ولېږهٔ، اوس د نړۍ وال استكبار له خوا ديو بل خپور كړې جال په چاپيريال كې له يو سخت آزميښت سره مخامخ دى.

په سياسى او نظامى سنګر كې د كمونيزم تر ماتى وروسته افغان مجاهد ولس هيله درلوده چې يوازى اسلامي نظام ددوى په زخمونو پټۍ لګولى شى او بس د كفر پلاس دا كنډواله شوى هيواد به يوازي او يوازى اسلامي حكومت تعميروى، د كونډو، بي كوره شويو او معيوبينو سترګى به اسلامي نظام يخوى او د كمونيزم سيلاب وړو ته به هم داسلام مطمئنه بېړۍ نجات وركوي، خو په ډيره خواشينۍ سره بايد ووايو چې دا هر څه د نړۍ وال كفر او صهيونزم دلاس وهنى په اساس دقدرت غوښتنى او تفوق غوښتنى په څيره كې په سيند لاهو او دغه فولادين ملت په يو بل ازميښتى بټۍ كې واچول شو او نتيجه دا شوه چې د همدغي متشنجي وضعي د محصول په توګه دهيواد په جنوب لويديز كې د «طالبانو د تحريك» په نوم يوه نوى ډله را منځته شوه!

د طالبانو د تحريك غړى څوك نه پيژني او اكثراً له خپل تعارف څخه ډه ډه كوى، دوي وائى: دا چې د جهادي تنظيمونو مشران د امنيت به استقرار كې پاتى راغلل، مونږ به امنيت راولو، افغانانو قربانى د اسلام لپاره وركړى، مونږ دوى ته اسلامي نظام راوستل خپله فريضه ګڼو، پدى اساس د اسلامي نظام د استحكام اود اسلامي امنيت داستقرار لپاره دا ضرورى ده چې په هيواد كى موجودى وسله والې ډلې بى وسلى شي، تر څو په افغانستان كى درنه او سپكه وسله دداسى بى مسئوليتو او بي احساسو ډلو پلاس كي موجوده وى، نه يوازى دا چې اسلامي حكومت نه شي جوړيداى بلكه د اسلامي امنيت استقرار او استحكام هم له امكان نه ليرى بريښي.

وسله والو ډلو چې په هیواد کی کوم اور بل کړی ؤ د هغه تاؤ د طالبانو له تحریك سره دومره مرسته وکړه چې په ډیره لږه موده کی یی د هیواد ډیر ولایتونه یو په بل پسی ونیول او عام خلك پداسی حال کی چی بالفعل له دوی سره ملگری نه وو، بلکه بالقوه توگه ئی ورته ئی د غیبی امداد دعاگانی کولی، بیا هم ددوی راتلونکي ته د شك په سترگه گوری.

د طالبانو تحریك تقریباً څه دپاسه پنځه میاشتی دمخه پداسي حال کی میدان ته راودانگل چي د پاکستان د داخله چارو وزیر متقاعد جنرال نصیرالله بابر د جنوبي اسیا د ځینو هیوادو په دوره خپل سفرد کویټی او چمن له لیاری پای ته رسولي او د جنوبي اسیا ځینو هیوادونو ته د ځیني کومکي سامانونو څخه بار څو موټري په قندهار کی د څه وسله والو کسانو له خوا ایسارۍ کړی شوې.

د طالبانو دغه تحریك وکړای شول چی په لږ وخت کی دغه دکومکی موادو قافله د وسله والو کسانو له چنگه آزاده کړی، وروسته ئی د قندهار د ولایت قومندانان او بیا ئی د هلمند او زابل ولایتونه یو په بل پسی فتح او وسله وال کسان ئی بي وسلی کړل، د غزني ولایت ئی ونیو او میدان ښار ئی له لوگر سره یو ځای تر خپلی قبضي لاندی راوستل او چار آسیاب ته ورسیدل.

د طالبانو د تحریك محیر العقولو فتوحاتو کورنیو او بهرنیو ذهنیتونو ته ځیني سوالونه خلق کړی چی په راتلونکی کی کیدای شی ځواب ورته ومومی.

پوښتنی دادی: طالبان خو د مدرسو زده کونکی هلکان دی، دوي څنگه په یوه قومنده را ټول شول؟

دوی نظامی زده کړه او د درنو وسلو استعمال چیری زده کړ؟ دوئ چي څنگه له کومي وسله والی ډلی سره مخامخ شي، وسله والی ډلی داسی په شا کیږی چی خپل ټول سامان پریږدی او دوئ بیله جنگه ورته تسلیم شی؟ سوال دادی چی دا وسلوالگروپونه دومره نیك خلك وو چی ددوی ښو خبرو ته تسلمیږی نو دا نورو ته ولی نه تسلیمیدل؟ په هر حال دا جواب هم څه ناڅه قانع کننده دی چی طالبان د مجاهدینو بچیان او د جهاد په دوران کي د وسلو سره اشنا شوی دی.

طالبان چی کله چار اسیاب ته ورسیدل د کابل له وسله والو ډلو سره ئی خبری پیل کړی او هغوی ته ئی هم گواښ وکړ چی که تسلیم نه شي نو دوی به هم د سرکاتب، ملا نقیب، قارۍبابا، او نورو په سرنوشت اخته شی خو د کابل وسله والو نه یوازی دا چی ددوئ گواښ ته تسلیم نه شول بلکه دوی

ئی دی ته اړویستل چی د کابل په دروازه کی څه اوزد مکس وکړی.

له بلی خوا د افغانستان لپاره د ملل متحد خاص استازي محمود مستیری خپل فعالیتونه په همدغه وخت کی پیل کړل چی د طالبانو فتسوحاتو په ګرندیتوب سره لار وهله.

محمود مستیری د افغانستان د سولي په پروسه کی له خپلو هلو ځلو څخه مطمئن ښکاریده او ویل به ئی چي خبری ئی سود مني دی، خو کله چی طالبان د کابل په دروازه کی و دریدل، نو محمود مستیري هم د وعدو په بدلولو سره هك پك ؤ چی څه وکړی؟ پوښتنه دا ده چی محمود مستیري دطالبانو تحریك تائیدوی خو د خپلو اجرأتو جرئت په نیمه لار کي له لاسه ورکوی او پدی نه پوهیزی چي اوس څه وکړی؟ دا هم ځرګنده ده چی د محمود مستیری په ترتیب شوی کابینه کی هغه افراد په راس کی قرار لری کوم چی د جهاد څخه لیري پاتی شوی دی.

له بلی خوا محمود مستیری د خپلو هلو ځلو په آوایلو کی داستاذ رباني او حکمتیار او احمد شاه مسعودله خوا بیخي داړه وو، خو کابل ته د طالبانو په رسیدو دا هر څه ولی یو دم بدل شول؟ استاذ رباني چی پخوا ئی د محمود مستیری دپروسي دمیکانیزم ملاتړ اعلان کړی ؤ خو کله چي دده رقیب (حکمتیار) له چار اسیاب څخه ووت او طالبان د هغه ځای ته ورسیدل، بیا دده ملاتړ هم سست او د ملاتړ رسيړئی تر حمله پوری ورسیده!

په هر صورت، زمونږ اندیښنه داده چی لکه څنګه چی نړی وال کفر د مجاهد او عالم سپیځلی نومونه د خپلو طاغوتي دسیسو ښکار کړل، الله دې نکړی چی اوس ددینی طالبانو دا سپیځلی نوم بد نام نکړی.

زمونږ مشوره داده چی دینی طالبان دی دا هڅه وکړی چی له مسلمانانوسره خپلی کړی وعدی پوره کړی، امنیت تأمین کړی، شرع الله نافذ او قطاع الطریق د خپلو شومو اعمالو په سزا ورسوی ددین خدمت وکړی، شك نشته چی د الله تعالی مرستی به له دوی سره ملګری وی او که دوي هم (الله دی نکړی) ددی نورو په څیر د توپك زور ته مغرور د هوا او هوس په دام کی ونښتل، بیا نو دالله تعالی په وړاندی هیڅ نوع توجیه او تأویل د قبول وړ ندی او هغه څه به ورسره وکړی لکه څنګه چي له نورو سره ئی وکړل.

تر کومه ځایه چی د افغانستان په جماعة الدعوة الی القرآن والسنة پوری اړه لری، ددی جماعت

بنسټ ایښودونکی یو دینی عالم ؤ، حتی ټول مشران ئی بلا استثناء دیني علماء کرام دی او د اسلامي روحیي او تفکر او پاکی عقیدی پر بنیاد د ځوان نسل تربیي ته ترجیح ورکوی، دغه جماعة دافغاني ټولنی د اصلاح او دعوت الی الله پخاطر بي شمیره قربانیۍ ورکړی او په زرګونو روزل شوی ځوانان ئی خپلی ټولنی ته تقدیم کړی چی دا لړۍ لا روانه ده، د جماعة الدعوة له اهدافو څخه دی چی د الله تعالی د نظام د نفاذ او تطبیق لپاره نیك بندګان وړ او مناسب اشخاص دی او دا هم واقعیت دی چی علماء کرام پدی اساس چی په دین پوه دی، تر ټولو وړ او مناسب ګڼل کیږی.

جماعة الدعوة چی د قرآن او سنت دتطبیق اصلی مدعي جماعة دی د کنړونو په ولایت کی ئې د لومړی ځل لپاره حدود نافذ او د شرع الله د تطبیق لپاره ئی شرایط مساعد کړل، امنیت قایم او خلکو ته ددی په برکت ئی د هوسا ژوند او مال او ناموس د حفاظت شرایط برابر کړی وو، اوس هم د داسی کړو طمع لری، که له کوم اړخ څخه د دغه هدف د حصول په لاره کې هلی ځلي کیږی، نو تقدیروی ئی او ورسره مرسته کوی.

طالبان ورونه چی له هری مدرسی سره رابطه لری، باید د قرآن او سنت نفاذ د خپلی مدعا اصل وګرځوی.

د جهاد غایه او هدف چی د څه وخت لپاره معطل دی، عملاً ئی د حصول لپاره هلی ځلي وکړی، د خپل فعالیت پراخ میدان په بی ځایه او نامشروع تعصباتو تنګ نکړی، د ټولو نیکانو بندګانو او دینی طالبانو په یوه پلیټ فارم کی د راټولولو کوشش خپله فریضه وګنی ځکه چي د موفقیت او کامیابۍ راز په اسلامي اتحاد کی نغښتي دی، د اسلامي تحریك دقربانیو قدر داني وکړی او دنړۍ والو په وړاندي یي له رسوائی څخه وژغوری، زمونږ موقف د تل لپاره د «تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الإثم والعدوان» په اساس پر مخ درومي او ددی موقف په رڼا کی به خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکړو.

(ومن الله التوفیق)

د روژې د مبارکې میاشتې فیوضات او برکات

تولوونکی: محراب الدین یوسفزی

روژې ته په عربی کی «صوم» وائی او «صوم» په لغت کي مطلق ځان ساتنی او پرهیز ته وائی- له هر شی څخه چی وي - خو د شریعت په اصطلاح کی یوه میاشت له سپیده داغ نه تر مابنام پوری له خوړلو، څښلو او جنسی کړو وړو څخه ځان ژغورني ته روژه وائی.

روژې څو ډوله دی لکه فرضي روژې، مسنوني روژې، نفلی روژې او نذری روژې ، خو د کومو روژو په هکله چی مونږ غواړو خپلو گرانو لوستونکو ته څه معلومات وړاندی کړو هغه فرضي او د رمضان المبارك دمیاشتی روژې دی چی د هغه دفرضیت په هکله الله تعالی په صراحت سره ارشاد فرمایلی دی:

«یا أیهاالذین أمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم» الآیه (بقره-۱۸۳)

ترجمه: اي د ایمان خاوندانو! پر تاسو باندي روژه فرض شوه هماغسي چي له تاسو څخه په مخکینو خلکو باندی فرض وه.

بل ځای فرمایی: «شهررمضان الذي أنزل فیه القرآن هدًى للناس وبیناتٍ من الهدی والفرقان فمن شهد منکم الشهر فلیصمه ومن کان مریضاً او علی سفرٍ فعدةٌ من أیام أُخر» الایه(بقره-۱۸۵)

ترجمه: د رمضان میاشت هغه ده چی په هغی کی مو قرآن نازل کړ د خلکو لپاره له هدایت نه روښانه او له حق نه دباطل دبیلولو خبری، پس له تاسو نه هر څوك چي دغه میاشت ومومی باید روژه ونیسي او که ځوك ناروغ او یا مسافر شی پردوی د فوت شوو ورځو روژه نیول له نورو ورځو څخه لازم دی.

له پورتنی مبارك ارشاد څخه ثابتیزی چی پر هر مؤمن مسلمان باندی- ښځه وی که نر- چی هغه عاقل، بالغ، مقیم او روغ رمټ وی له سپیده داغ څخه تر مابنام پوری دپوره یوی میاشتی روژې نیول فرض عین او منکر ئی کافر دی، په قصد سره خوړونکی ئی باید د یوی روژې په مقابل کی یا دوه میاشتی پر- لپسی روژه ونیسی او یا شپیته مسکینانو ته دودیه‌ورکړی او یا یو غلام آزاد کړی، که له چا څخه په خطا کی روژه و- خوړل شی هغه باقي ورځ به هم روژه وی او یوه ورځ به د قضائی په نوم روژه هم ونیسی او که په سهوه ئی

روژه و خوړه چې په یاد ئې نه وي، که هر څه وخوري د رب العزت له خوا مهماني ده او قضاء او کفاره پرې نشته، د ناروغ لپاره د روژې خوړل جایز دي خو چې کله روغ شي، قضا- ئې باید راوړل شي او یوه ورځ روژه ونیسي، په قې سره که اختیاري وي روژه ماتیږي چې پدې صورت کې به هم باقي ورځ روژه وي او هم به قضائي راوړي او که بې اختیاره وي قضائي پرې نشته.

روژه د هجرت په دوهم کال د شعبان په لسمه نیټه د رب العزت له خوا فرض او دفرضیت حکم ئې ارشاد شو، له دې نیټې څخه د مخه په هره میاشت کې درې ورځې روژه نیول فرض وو چې د روژې د حکم په نازلیدود هغو حکم منسوخ شو.

ابن جریر د معاذ بن جبل رضي الله عنه په روایت یو حدیث نقل کړی او وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چې مدینې منورې ته تشریف راوړو، هر کال به ئې د عاشورې دوه ورځې روژه او په هره میاشت کې درې ورځې روژه نیوله څو چې الله تعالی د هجرت په دوهم کال د رمضان المبارك روژې فرض کړې او د بقرې د سورة (۱۸۳) آیت نازل شو.

د روژې مبارکه میاشت هغه بختوره میاشت ده چې د الله تعالی بې شمیره رحمتونه پکې نازلیږي، قرآن کریم چې د الله تعالی د رحمتونو چینه ده په همدې مبارکه میاشت کې نازل شویدی او همدا رنګه نورآسماني کتابونه هم په همدې میاشت کې نازل شوي دي.

په هغه خطبه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شعبان المعظم د میاشتې په وروستیو ورځو کې ایراد کړه وئې فرمایل: «اې خلکو ! پر تاسو باندې یوه بابرکته میاشت سیورې کوونکې ده چې په هغې کې یوه داسې شپه شته چې له زرو شپونه بهتره ده، پدې میاشت کې د نیکو اعمالو سرته رسول لس برابره اجر لري، هغه کسان چې د خپلو عاداتو له مخې یو ښه او نیك عمل دنفلو په نوم سرته ورسوي، د فرضو اجر مومي او چې فرضي عمل سرته ورسوي د هغه او یا برابره اجر ورکړې کیږي.

رمضان د صبر او استقامت میاشت ده، څوك چې خپل روژه دار وروته یو ماښام روژه ماتې ورکړي په عوض ئې د ګناهونو پیټي سپکیږي، د دوزخ له اور څخه نجات مومي او د هماغه روژه- دار هومره ثواب ورکړای کیږي.او د روژه دار ثواب هم نه کمیږي، صحابه کرامو عرض وکړ یا (رسول الله صلی الله علیه وسلم) ! مونږ خو دومره وسه او توان نلرو چې روژه دار ته روژه ماتې ورکړو، وئې فرمایل: څوك چې یو غړپ اوبه یا شربت او یا یوه دانه خرما د روژه ماتې په وخت کې روژه- دار ته ورکړي داسې دی لکه روژه دار ته ئې چې په مړه خیټه ډوډۍ ورکړې وي، الله تعالی به هومره اجر او ثواب ورکړي او د کوثر د حوض اوبه به ورکړای شي چې بیابه هیڅکله تږی نشي، که څوك پدې میاشت کې پر یوه مسلمان باندې رحم وکړي، الله تعالی پر هغه باندې رحم کوي.

رمضان داسې میاشت ده چې لومړۍ لس ورځې ئې رحمت او منځني لس ورځې ئې مغفرت او وروستۍ لس ورځې یې ددوزخ له اور څخه د ژغورنې ورځې دي. په هغه روایت کې چې بیهقي نقل کړی راغلی چې څوك د روژې په میاشت کې په خپل خادم باندې لږ کار وکړي مغفرت ئې په برخه کیږي او ددوزخ له اور نه نجات مومي.

په هغه روایت کې چې له ابوهریره رضي الله عنه نه نقل شوی راغلی

دی: «قال رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الله عزوجل: کل عمل ابن آدم له إلا الصيام فانه لي و أنا أجزي به والصيام جنة فاذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث ولا يصخب فان سابه أحداً و قاتله فليقل إني صائم، والذي نفس محمد بيده لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك، للصائم فرحتان: يفرحهما إذا افطر فرح بفطره و اذا لقي ربه فرح بصومه» (متفق علیه) و هذا لفظ رواية البخاری و في رواية له «يترك طعامه و شرابه و شهوته من اجلي، الصيام لي و أنا أجزی به والحسنة بعشر أمثالها» و في رواية لمسلم: «كل عمل ابن آدم يضاعف الحسنة بعشر أمثالها الى سبع مائة ضعف قال الله تعالى: إلا الصوم فانه لي و أنا اجزي به يدع شهوته و طعامه من اجلي، للصائم فرحتان: فرحة عند فطره و فرحة عند لقاء ربه ولخلوف فمه اطيب عندا لله من ريح المسك»

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چی الله جل جلاله فرمائی: د آدم د اولاد هر عمل دهغه لپاره دی غیر له روژی نه چی هغه زما لپاره خاص ده او زه دهغی اجر ورکوم او روژه (ددوزخ د اور او یا گناهونو په مقابل کی) یو سپر دی، نو که له تاسو څخه د چا روژه وی لازم دی چي بدی خبری ونکړی، په لوړ آواز چغي ونه وهی او له چا سره جنگ جگړه ونکړی او که چا ورته بنکنځلی وکړی او یائی ورسره جنگ پیل کړ، لازم دی چی دی ووائی چی زه روژه یم او زما دي په هغه ذات سوگند وی چي د محمد نفس ئی په واك کی دی چی د روژه دار د خولی بوی د الله تعالی په وړاندې له مشکو څخه بهتر او خوښ دی دروژه دار لپاره دوه خوښۍ دی: یوه دا هغه د روژه ماتی په وخت کي او بله له خپل رب سره د مخامخ کیدو په وخت کی دا د بخاری د روایت لفظ دی او په یو بل روایت کی دی چی روژه دار خپل خوراك څښاك او شهوت زما لپاره ترك کړی، زما لپاره روژه دی، نو زه د هغه اجر ورکوم او حسنه اعمالو ته ئی لس برابره اجر ورکوم.

او د مسلم په روایت کی راغلی چی: د آدم د اولاد هر عمل څو برابره کیږی، نیکی ته ئی لس برابره تر اوه سوه برابرو پوری اجر ورکول کیږی، الله تعالی و فرمایل : پرته له روژی نه چی زما لپاره خاص دی او زه ورته اجر ورکوم ځکه چی خپل شهوت او خوراك زما لپاره ترك‌کوی، د روژه دار د خولی بوی د الله تعالی په وړاندی له مشکو څخه بهتر او خوښ دی.

په هغه حدیث کی چي عبدالله ابن عمر رضي الله عنهم ئی روایت کړی راغلی دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چی د قیامت په ورځ روژه او قرانکریم د روژه دار او تلاوت کوونکی شفاعت کوی، روژه عرض کوی یا الله! ما ستا دغه بنده د ورځی له خوا له خوراك، څښاك او نورو ممنوعه اعمالو او افعالو څخه منع کړی ؤ، الهي عفوه ورته و فرمایه، همدا رنگه قرآنکریم هم د خپل تلاوت کوونکی لپاره له رب العزت نه مغفرت غواړی، او الله تعالی د روژی او قرآنکرم شفاعت قبلوی، په هغه حدیث کی چی بخاری او مسلم ئی روایت کړی راغلی چی: «و عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من صام رمضان ايماناً و احتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه» هكذا «وعنه رضي الله عنه» ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال و اذا جاء رمضان فتحت أبواب الجنة و غلقت ابواب النار و صفدت الشياطين» (متفق علیه).

ترجمه: له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلی الله

عليه وسلم فرمايلي دي څوك چي د ايمان او اخلاص له مخي د رمضان د مياشتي روژه ونيسي تير ګناهونه ئي بخښنل کيږي، همدا رنګه په يو بل روايت کی له ابو هريرة رضي الله عنه نه نقل شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چی د رمضان مياشت داخله شی دجنت دروازی خلاصي او ددوزخ دروازی بندی شی او شيطانان په زنځيرونو وتړل شي.

په يو بل روايت کی چی بيهقی په ترغيب کی نقل کړی راغلی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم و-فرمايل: «لو يعلم العباد ما في رمضان لتمنت امتي أن تكون السنة كلها رمضان»

يعني که د الله تعالی بندګان د رمضان دمياشتی د روژی نيولو په حقيقي فيوضاتو پوه شوی وای نو زما امة به د ټول کال د روژه نيولو تکل کړی ؤ.

د روژی احکام او مسائل:

١- روژه يوازی خوله بندولو ته نه وائی، بلکه د روژی نيولو مقصد دادی چی انسان بايدله ټولو ناروا کړو وړو څخه پرهيز وکړی او په کامله توګه به دا لله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم احکامو ته تسليم شی حديث شريف کی راځي:

«عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا كان يوم صوم احدكم فلا يرفث ولا يصخب فان سابه احد او قاتله، فليقل إني صائم» الحديث (متفق عليه)

هكذا: «و منه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم : «من لم يدع قول الزور و العمل به فليس لله حاجة في أن يدع طعامه و شرابه ... الحديث» (رواه البخاري)

ترجمه: له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل که له تاسوڅخه کومه ورځ د چا روژه وی، بنکنځل دی نکوی، په لوړ غږ دی چغی نه وهی او که چا ده ته بنکنځلی وکړی او يا ئی ور سره جنګ وکړ، لازم دی چی ووائی چی زه روژه يم.

همدا رنګه له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چی نبی کريم صلی الله عليه وسلم و فرمايل: څوك چی خپله دروغ خبره کول او په هغی باندی عمل کول ترك نکړی، نو الله تعالی دی ته محتاج ندی چی دی خپل خوړل او څښل ترك کړی.

لدی نه معلومه شوه چی په روژه کی د ژبي او نورو جوارحو له ممنوعه افعالو او کردار نه بندول هم ضروری دی.

٢- په شکی ورځ روژه نيول جايز ندي ځکه چی د خوږ نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی: «وعن ابي اليقظان عمار بن ياسر (رضي الله عنهما) قال: من صام اليوم الذي يشك فيه فقد عصى أبا القاسم» (رواه ابو داؤد- الترمذي و قال حديث حسن صحيح)

ترجمه: له ابو اليقظان عمار بن ياسر رضي الله عنهما نه روايت دی چی وئي ويل: چا چی دشك په ورځ روژه و نيوله، بيله شکه ئی د ابو-القاسم صلی الله عليه وسلم نافرمانی وکړه.

جامع ترمذي د ابو هريرة رضي الله عنه په روايت يو بل حديث نقل کړی چی حلال المشکلات دی فرمائي: «احصوا هلال شعبان لرمضان» يعني دشعبان دمياشتی سپوږمۍ د رمضان لپاره تعقيب کړئ.

ځينی خلك عادت لری ددی لپاره چي په روژه کی ئی د سپوږمۍ د نه ليدو له کبله نقصان پيښ نه شي، نو يوه ورځ يا دوه ورځي دمخه روژه نيسي، پدی هکله له رسول الله صلی

الله علیه وسلم نه د حدیثو په کتابونو کی ډېر ارشادات راغلی چې له هغې جملې څخه ئی د نمونې په ډول لاندی څو حدیثونه نقلوو:

«عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم و لا تصوموا قبل رمضان صوموا لرویته و افطرو لرویته فان حالت دونه غیابة فاکملوا ثلاثین یوماً» (رواه ترمذي و قال حدیث حسن صحیح)

ترجمه: له ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: له رمضان نه وړاندی روژه مه نیسئ، بلکه د سپوږمۍ په لیدلو روژه کېږدئ او دسپوږمۍ په لیدلو ئی ماتوئ او که چېری وریځې دسپوږمۍ د لیدلو مانع شوی‌وګانو دیرش روژی پوره کړئ، همدا رنګه فرمائی: «وعن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «اذا ابقي نصف من شعبان فلاتصوموا» (رواه الترمذي و قال حدیث حسن صحیح).

ترجمه: ابو هریرة رضي الله عنه وائی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چې د شعبان میاشت نیمه شي نو روژه مه نیسئ.

بل ځای فرمائی: «وعن ابي هریرة رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال لا یتقید من احدکم رمضان بصوم یوم او یومین، الا أن یکون رجل کان یصوم صومه،فلیصم ذلك الیوم» (متفق علیه).

ترجمه: له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: له تاسو څخه دی هیڅوك له رمضان نه یوه ورځ یا دوه ورځې وړاندی روژه ونه نیسی مګر د چا چی عادتی روژه نیول له همدی ورځې سره برابروی نو دا ورځ دې روژه و نیسی.

توضیح: دپورتنی حدیث شریف مقصد دادی چې له رمضان نه یوه ورځ یا دوه ورځې وړاندی هغه چاته روژه نیول جایز دی او روژه نیولای شی چې هغه عادتاً ایام بیض او یا ټول کال دوشنبه او پنجشنبه روژه نیسی او دده دغه عادتي ورځ (دوشنبه او پنجنشبه) یا د میاشتی درې ورځې د شعبان وروستیو ورځې وی، پدی صورت کی که دا سړی روژه شی پروا نشته، که نه پدی نیت روژه نیول چې که روژه وه فرضي او که نه وه نو نفلی، دا روژی نیول جایز نه دی.

۳- د روژه ماتي او پیشنمي په هکله:

ځینې خلك په افغانستان کی په عامه توګه داسی عادت لري او دا ثواب ګڼی چې پیشنمی دی په نیمه شپه کی وکړی او مابنام روژه ماتی دی هم وځنډوی څو ښه تیارهٔ خوره شی بناء دا ضروری مسئله ده چې مونږ خپلو لوستونکو ته لدی ابهام نه د سنتو په رڼا کی پرده لیری کړو (انشاء الله).

«عن انس (رضي الله عنه) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تسحروا فان في السحور برکة»

ترجمه: له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: پیشنمی وکړئ ځکه چې په پیشنمی کی برکت دی.

همدا رنګه «وعن زید بن ثابت رضي الله عنه قال: تسحرنا مع رسو ل الله صلي الله علیه وسلم ثم قمنا الي الصلاة قیل: کم کان بینهما؟ قال: قدر خمسین آیة» (متفق علیه).

ترجمة: له زید بن ثابت رضي الله عنه نه روایت دي چې وئي ویل: له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره مي پیشنمي وکړ وروسته په لمانځه ودریدو. ورته وویل شو چې څومره فاصله (د پیشمني او لمانځه) ترمنځ وه؟ وئي ویل پنځوس آیتونه.

بیا فرمائي: وعن انس رضي الله عنه قال: «کان رسول الله صلي الله علیه وسلم یفطر قبل ان یصلي علي رطبات، فان لم تکن رطبات فتمیرات،

فان لم تكن تميرات حسا حسوات من ماء» (رواه ابوداؤد والترمذي وقال حديث حسن).

ترجمه: له انس رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په څو دانو تازه خرماؤ(رطب) باندي روژه ماتوله او که تازه خرما به نه وه، نو په وچه خرما(تمير) باندي به ئي روژه ماتوله او که به څوداني وچي خرما وی هم نه وي نو په څو غړپه اوبو به ئي روژه ماتوله.

له پورتنيو نبوي لاربنودنو څخه دا ثابته شوه چي پيشنمي ناوخته او ماښام روژه ماتي وختي کول بهتردي او له وروستي مبارك حديث څخه دا معلومه شوه چي روژه ماتي په خرما او اوبو باندي بهتر دي او ثواب لري، الله تعالی دي مونږ ټولو مسلمانانو ته په نبوي نقش قدم باندي د تللو او عمل کولو توفيق عنايت کړي!

بل حديث شريف کی راحی چی: «وعن عمرو بن العاص (رضي الله عنه) ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: فصل ماين صيامنا و صيام اهل الكتاب اكله السحر» (رواه مسلم).

ترجمه: له عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل چي زمونږ او د اهل کتابو د روژی تر منځ فرق پيشنمی کوله‌ی.

همدا رنګه: «عن سهل بن سعد رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لا يزال الناس بخير ما عجّلو الفطر» (متفق عليه)

ترجمه: له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چی تل به خلك په خير کی وی تر هغو چی په روژه ماتی کی عجله کوی.

بل ځای فرمائی: و عن ابي عطيه قال: دخلت انا ومسروق على عائشة رضي الله عنها فقال لها مسروق: رجلان من اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم كلاهما لا يألو عن الخير: احدهما يعجل المغرب والافطار؟ قال: عبدالله يعني ابن مسعود فقالت: هكذا كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصنع» (رواه مسلم.

ترجمه: له ابو عطيه څخه روايت دی چی ويل ئی: زه او مسروق دعايشي رضي الله عنها حضور ته ورغلو. مسروق‌ورته وويل: د محمد صلی الله عليه وسلم دوه تنه اصحاب دی چي هيڅ يو ئی د خير له کار نه مخ نه اړوی، د هغوی يو د ماښام په لمانځه او روژه ماتی کي عجله کوی او بل ئی د ماښام لمونځ او روژه ماتی ځنډوي. هغي وويل: کوم يو د ماښام په لمونځ او روژه ماتی کی عجله کوی؟ وئی ويل عبدالله، يعنی ابن مسعود رضي الله عنه، هغی وويل چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به همداسي کول.

بل ځای فرمائی: «وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: قال الله عزوجل: «احب عبادی الی اعجلهم فطراً» (رواه الترمذي و قال حديث حسن)

ترجمه: له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چی الله جل جلاله وفرمايل: زما په بندګانو کی خورا محبوب هغه دی چی په روژه ماتی کی له ټولو څخه ډير شتاب کوی.

همدا رنګه: «وعن عمر ابن الخطاب رضي الله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «اذا اقبل الليل من ههنا و ادبر النهار من ههنا و غربت الشمس فقد افطر الصائم» (متفق عليه)

ترجمه: له عمر ابن خطاب رضي الله نه روايت دی چی رسول الله فرمايلی دی: کله شپی لدي خوا څخه راشی او ورځ لدی خوا شاو ګرځوی او لمر پريوزی، نو روژه دار به روژه ماتی کوی.

پاکستان ته د کنړ او نورستان د ولایتونو دوفد راتګ

تیر کال چی په باجوړ، مهمند او ملا کند ایجنسیو کی د نفاذ شریعت د تحریك او دپاکستان د حکومت تر منځ دکشمکش په نتیجه کی کوم واقعات پیښ شول، د هغو په اثر دباجوړ په کیمپونو کی زمونږ یو شمیر مهاجر ورونه متضرر او یو شمیر ئی په خپلو کورونو کی شهیدان او زخمیان شول، داسی افواهات خپاره شول چی ګنی دباجوړ په پیښنو کی افغان مهاجرین شریك دی.

ددي افواهاتو او دروغجنو اطلاعاتو پر اساس د پاکستان حکومت د مهاجرینو د کیمپونو پر ضد یو لړ اقداماتو ته مجبور شو، کنړ ته د ناوه پاس لاره بنده شوه، دباجوړ او دیر د مهاجرینو د کیمپونو د تخلیی فرامین صادر شول او ددغو مناطقو دیني مدرسي هم له خطر سره مخامخ شوی.

دا چی دافغانستان مرکزی حکومت له دیرو مشکلاتو سره مخ ؤ او له بلی خوا داسی وسایلو وجود نه درلود چي د مرکزی حکومت او بهرنیو چارو وزارت او سفارت پوسیله د مسایلو په حل کی اقدام شوي وائي، پدی اساس د کنړ ولایت والی ښاغلی غلام صادق اخونزاده د یو وفد په شمول دمسایلو د حل په مقصد پیښور ته راغي، خو دسفر په هکله د غلط فهمو د لیری کولو په منظور مربوطو مراجعو ته اطلاع ورکړ شوی وه.

په وفد کی د «جماعة الدعوة الي القرآن والسنة» امیر ښاغلي مولوی سمیع الله «نجیبي»، محترم استاد شهیدا لله، محترم حاجي روح الله، محترم حاجي محمد عارف او د نورستان د ولایت محترم اینجنیر امیرجان او محترم ډاکتر محمد-یوسف هم شامل وو، دوی د صوبه سرحد له ګورنر، وزیر اعلی د پیښور له کمشنر او د مهاجرینو له کمشنر او همدارنګه په اسلام آباد کی دپاکستان د کورنیو چارو له وزیر ښاغلی نصیر الله بابر سره جلا جلا ملاقاتونه وکړل او لاندینی امور تر بحث او څیړنی لاندی ونیول شول.

١- کوم مهاجرین چي په ذکر شوو پیښنو کی متضرر شوی یا شهیدان شوي، په ذکر شوو جنګونو او پیښنو کی ملوث نه وو، پر دوی زیاتی شویدی.

٢- متضرر شوو مهاجرینو ته باید معاوضه ورکړای شی او کومك ورسره وشی.

٣- د مهاجرینو د کیمپونو د تخلیي مسئله باید د افغانستان د حالاتو تر عادی کیدو پوری وځنډول شی.

٤- د ناوه پاس لاره باید د تل لپاره خلاصه شی او ترانزیتی حقوق ورکړل شي.

٥- د کنړ له لیاری د چترالي مسافرینو د عبور او مرور په هکله

باید تدابیر ونیول شي او پدی هکله له مرکزی حکومت سره تفاهم وشی.
٦- خیریه مؤسسات باید تشویق شی چی په کنړ کي اعماری کارونه وکړی او ددوی پر مخ باید ټولی لیاری خلاصي وی.
٧- دخیریه تعمیراتي مؤسساتو مواد باید پرته له پرمټ څخه کنړ ته داخل شی.
٨- که د کنړ او قبایلو تر منځ ځه متنازع امور پیښیږی د تفاهم له لیاری باید حل او فصل شی.
همدا رنګه د ځینو نورو اهمو مسائلو په هکله بحثونه وشول چی په نتیجه کی د پاکستان مسؤلینو د دغه وفد راتګ ته ښه راغلاست ووایه. د باجوړ او دیر په واقعاتو دواړو خواؤ خپل ژور خفګان څرګند کړ او د پاکستان مقاماتو متضرر شوو خلکو ته دمعاوضي او مرستي وعده ورکړه، د نورو مطالبو په هکله هم وعدی وشوی چی اکثره ئی عملی شوی دی.
دپاکستان حکامو او مسؤلینو د کنړ له ولس سره د ښو اړیکو دساتلو ستاینه وکړه او پدی خبره ئی زور راوړ چي د کونړ ولایت او د پاکستان مسلمان ملت باید خپل منځی مسائل د تفاهم له لیاری د ورور ګلوی په فضاء کی حل او فصل کړی، که کوم مشکل پیښیږی نو باید ددواړو خواؤ مسؤلینو ته مراجعه وشی.
همدارنګه د کنړ والی او ورسره څو ملګری هیئت په پیښور کی یو شمیر دخیریه مؤسسو مشران دوه کرتی راوبلل او په کنړ کی ئی د هغوی دآبادۍ د کارونو د تیزۍ او چټکتیا په لار کی خپله همکاری ښکاره کړه او داډ ئي ورکړ چی په کونړ کی د کوکنارو په کرلو بندیز لګیدلی، د لوی الله په فضل امنیت بیخي ښه دی، دوي باید په ډاډه زړه په تیزۍ سره کار وکړی او خلکو ته دي د یو متبادل روزګار په تهیه کولو کی هلی ځلی وکړی.
د کنړ والی او ورسره ملګری هیئت ئی کونړ ته د ستنیدو په لار کی د باجوړ د ټولو کیمپونو سپین ږیری، علماء او قوماندانان سره راټول او د خپل سفر په هکله ئی هغوی ته ځینی معلومات ورکړل په دغه اجتماع کی د کنړ والی پدی خبره زور راوړ چی د کنړ ولایت منسوبین په د ځنګلونو د وهلو د مخنیوی کوشش وکړی چی پدی هکله لازم تصامیم او دستورات لیږل شوی دی. د کنړ والی د خپلو خبرو پر یوه برخه کي پدی خبره زرو راوړ چی د کنړ د امنیت استقرار او استحکام یوازی د اداری مسؤلیت نه بلکه د هر مسلمان هستوګن وظیفه ده چی پدی هکله له اداری سره تعاون وکړی.
مشکلات او مسایل په اسانه حل او د کنړ اوسیدونکی د اسلامي نظام په رڼا کی هوسا او سوکاله ژوند وکړی.
د یادوني وړ ده چی په کنړ کی انتظامیه او اداره د ټولو تنظیمونو څخه جوړه شوی او مشران ئی د انتخاباتو په نتیجه کی منځته راغلی دی، پدی اساس د الله تعالی په خاص فضل او کرم سره په دغه ولایت کی امنیتي وضع ښه او د اندیښنی وړ نده.
په پاي کی د اجتماع حاضرینو د والی او د هغه د ملګرو د فعالیتونو شکریه اداء او د زیاتو بریالیتوبونو دعائی ورته وکړه او هم ئی له خپلی خوا د هر ډول قربانۍ او مرستی وعده ورکړه.

چیچنیا د افغانستان په شان د روسیې د هلاکت یو بل میدان دی

ل، ه. افهیس

د ۱۹۹۱ میلادی کال د نومبر میاشت وه چې روسی امپراطوری دړې وړې شوه او په دې امپراطورۍ پورې تړلی هیوادونو دآزادۍ اوخپلواکۍ زیگنالونه وغږول نو بورس یلتسن د گورباچوف په ځای د روسیې د کمونستانو د بغاوت ددفع کولو لپاره له ځانگړو کړنو څخه کار اخیست. بورس یلتسن د کمونیزم د ایډیالوژۍ په ختمولو کوم اعتراض نه درلود مگر د دپیش منظر د شورروی اتحاد په ځای د روسی فیدارسیون یا په بل عبارت د «ماد روس»(Mothe Russio) جغرافیائی تحفظ، روسیه د یو نړیوال ځواك په څیر پیژاندل او په اقتصادی لحاظ له بحران څخه ویستل او دوباره د اقتصاد بحالول وو.

په دې وختونو کی د نړیوالو مطبوعاتو او د نورو ابلاغی ذریعو په سر کرښو کی د چیچنیا د اسلامي هیواد د آزادۍ غورځنگ هم و- برېښیدې. ددې نه وړاندې ډیر کم خلك له دې نوم سره اشنا وو، خو دا هغه اسلامي هیواد دی چی د شورروی اتحاد له ختمیدو نه وروسته د روسی فیدراسیون یوه برخه وه. دا هغه وخت ؤ چی ددې فیدراسیون غړی د بالتیك جمهوریتونو لکه استونیا، لتویا او مالدوا لا زړه نازړه وو چی چیچنیا په ۱۹۹۱ میلادی کال د نومبر د میاشتی په (۲۱) نیټه د خپلی آزادۍ اعلان وکړ. د چیچنیا په دې جرئت- مندانه اقدام دبالتیك په جمهوریتونو کی هم د آزادۍ ساه وښوریده او د آزادۍ اعلانونه یی وکړل.

د چیچنیا داستقلال له اعلانولو وروسته د روسیی جمهور رئیس یلتسن په دی جمهوریت کی د اضطراری حالت د اعلانولو او په نظامي زور په دی جمهوریت د کنټرول راوستلو حکم ورکړ مگر د روسیې دپارلمان هغه تجربه کارو سیاست پوهانو چی په افغانستان کی یی د روسیی مداخلت تجربه کړی ؤ؛ پر چیچنیا د بورس یلتسن د فوځی حملی حکم مسترد کړ. ددویم ځل لپاره بیا یلتسن د روسیی ددفاع وزیر گراچوف، داخله وزیر جنرال برین، د امنیت وزیر جنرال گلو چکو او د ملی امینت سکرتر لوبوف په شمول د چیچنیا د غربی سیمو کتنه وکړه او فیصله یی وکړه چی نه یوازی چیچنیا بلکی دشمالي قفقاز ټولی سیمی په نظامی تهدید تر خپل تسلط لاندی راولي. خو بیا یی هم خپل دا ډول نظامي تهدیدونه او تصورات بی نتیجي او منفي احساس‌کړل نو خپلی تگلاری ته یی تغیر ورکړ او د چیچنیا هیواد یی په اقتصادی لحاظ محاصره کړ. خپلی فضایی لاری یي د چیچنیا پر مخ بندی کړی او چیچنیا ته یی خبرداری ورکړ که چیری د چیچنیا الوتکی د روسیي په فضاء کی الوتنی وکړی له سقوط سره به مخ شی، د روسیی مرکزی بانك چیچنیاتهٔ پیسو لیږل بند کړل، غذائی مواد هم بند شول او همدا رنگه روسیی د چیچنیا د خلکو په ضد یوه بله نه بخښونکی او رزیلانه

حربه هم استعمال کړه چې هغه د چیچنیا صحی محاصره وه، د روسیې دعامې روغتیا وزیر «ادوارد-نچاییف» اعلان وکړ چې چیچنیا ته باید هیڅ ډول دارو درمل او یا نور طبي سامان الات ونه لیږل شي، چې په دې وخت کې دچیچنیا په ځینو سیمو کې د کولورا ناروغي خپره وه.

دی ډول تعذیرونو دچیچنیا د مسلمانانو پر ژوند ډیره بده اغیزه وکړه او ددې هیواد دولتی څرخ له حرکته وغورزید، مګر حکومت په ډیره تیزۍ سره پیښنه وضع کنترول او د ترکیې او نورو خلیجي هیوادونو سره یې خپلې تجارتی اړیکی ټینګی کړی چې په نتیجه کې د خلکو اقتصادی وضع یو محل بیا مخ په ښه کیدو شوه.

د روسیې د دا ډول اقتصادی حربو سره سره یې د K.G.B دستګاه د نورو شیطاني کارونو لپاره چمتو کړه او غوښتل یې له هری ممکنې لاری چې وی باید د چیچنیا جمهور رئیس جنرال جوهر دودا یوف له منځه لری کړی.

په ۸/۸/۱۹۹۳ م نیټه د کار په دفتر کی د توغندی تر حملې لاندې ونیول شو مګر نوموړی ته کوم نقصان ونه رسید. دK.G.B دګومارل شوو ورانکارو له لاسه نه یوازې د چیچنیا ډیر عام المنفعه مؤسسات له شدیدو نقصاناتو سره مخ شول بلکې دجنرال دودایوف په ضدیې روس پلوې کمونستان په کار واچول او د چیچنیا دداخلی وضعې د خرابولو لپاره یې په کرایه ورانکاری واستول چې له دې جملی څخه بتراګی حمیدوف، عبدالله بیګایف، احمدوف، زافګاییف، اصلان بیکوف، بیسلان ګنتیمیرو، رسلان لابزانوف او حسبلاتوف چې د روسیې دپخوانی پارلمان رئیس ؤ؛ نومونه د یادولو وړ دی.

دا ټول هغه کمونستان دی چې دپخوانی شوروی اتحاد د لوړو منصبونو لرونکی وو. له دې جملی څخه رسلان حسبلاتوف هغه څوک دی چې کله په ۱۹۹۳ کال د ستمبر د میاشتې په (۲۱) د یلتسن په ضد د روتسکوئی لخوا ناکامه کودتاه وشوه؛ د روتسکوئی سره یو ځای زنداني شو، له زندان څخه وروسته په سیاست کی د نه لاس وهنی په شرط خوشی کړی شو مګر اوس لکه دببرک کارمل په څیر د خپل هیواد او هیوادوالو په ضد د روسیې د شومو اغراضو په تر سره کولو کی هڅی کوی.

کاش که بورس یلتسن او د روسیې نور کمونست واکداران احمقان ګڼی د «افغانسان» او «ببرک کارمل» څخه به یې پند اخستی وی. خو دا ټول د نړیوال کفرهغه له بغض او کینی ډک هوسونه دی چی د مسلمانانو په ضد په تاریخی عبرتونو سترګی پټوی خو د مسلمانانو په له منځه وړلو مرګونی اقدامونه کوی.

یلتسن په دې وړوکی مسلم هیواد له دری خواؤ فوځونه تاؤ کړی او یوه جارحانه حمله یې کړی، یلتسن د ۱۹۹٤ کال د دسمبر دمیاشتی د ۱۸ نیټی دحملی په نتیجه کی چې جګړه یې لا تر اوسه دوام لري، د جنرال دودایوف له قوله چې ۱۱/۱/۹۵ نیټه یې په یو اخباری بیان کی ویلی دی تر دی وخته له اتلس زره څخه زیات چیچنیایی مسلمانان د روسیی په ظالمانه حمله کی شهیدان شویدي.

روسیه د چیچنیا دآزادۍ د ختمولو کوښښ کوي، که په ظاهره چیچنیا دری زره فوځ لرونکي یو وړوکی هیواد دی مګر د چیچنیا هر بچی بچی د خپلی آزادۍ څخه ددفاع په لار کی دخپل محدود فوځ سره ځنګ په ځنګ سینه سپر د جهاد میدان ته راوتی او مقابله کوی او د روس د هر ډول ظلم په مقابل کی یی حوصلی لا پسی مظبوطیږی.

که یلتسن او یا نور کفری اندیوالان یې دا فکر کوی چې مسلمانان به په فوځي زور او طاقت له

منځه یوسی نو دا به یو ځل بیا ددوی لویه سهوه وی ځکه ددی نه وړاندی ډیرو سیاسی تجزیه نګارانو ددي خبري څرګندونه کړی وه چی که چیری یلتسن پر چیچنیا فوځي حمله وکړی نو دا به نه یوازی د جنرال دودایوف حامیان لا پسی متحدکړی بلکي روسیه به یو ځل بیا لکه د افغانستان پشان د لویی لانجي سره مخ شی.

دروسانو او د چیچنیا د مسلمانانو دا اختلافات څه نوی خبره نه ده بلکی ددي اختلافاتو لړۍله څو پیړیو څخه را روانه ده. د چیچنیا مسلمانان له عربو څخه راغلی وو او په دی خاوره کی په اکثریت سره اوسیدل، دا مسلمانه سیمه په (۱۹) پیړۍ کی د روس دبادشاهت برخه وګرځیدله چي له دی وروسته بیا د کمونستي شوروي اتحاد یوه برخه هم وه، د چیچنیا مسلمانان د شلمی پیړۍ په اوږدو کی څو څو ځله دروسانو سره جنګیدلی دی او د خپلی میړانی تاریخ یی مشهور ساتلی دی. د قفقاز د غرونو په لړۍکی دی پروت مسلمان هیواد د روسانو له لاسه ډیر مظالم لیدلی دی او بالخصوص دجلاد «ستالین» ظلمونه یی د هیرېدلو وړ نه دی، ستالین غوښتل چی مسلمانان د ځمکی له مخ څخه تاله ترغه او ورك کړی. د یو معلومات له مخی ستالین په ۱۹٤٤ کال د فبروری په میاشت کی د چیچنیا مسلمانان منځنی اسیا ته شړلو ته مجبور کړل او هغه چا چی انکار کړی ؤ هغه یی قتل کړل، یوازی د «خائی باغ» په غرونو کی اوه سوه کسان پناه اخستونکی د ستالین د خفیه پولیسو لخوا ژوندی وسوزول شول، د یوی اندازی مطابق په دغو وختونو کی ستالین ټول د دوه لکو په شاؤ خوا کی مسلمانان په دی شك چی دوی د «هیټلر» سره لاس لری؛ شهیدان کړیدی.

په منځنی اسیا کی جلاوطن مسلمانان دیارلس کاله وروسته په ۱۹۵۷ کال کی د «خردشیف» په اجازت چیچنیا ته ستانه شول.

په ۱۹ پیړۍ کی زار روس په دی سیمه کي د حملی کولو کوښښ وکړ مګر د مسلمانانو لخوا داسی ګذارونه ورکړی شو چی تر دوه لسیزو څخه تر زیات وخته پوری بیا دوي دغه اړخ ته کتلی هم نه وو. په دغه وخت کی د مسلمانانو د مشهور ګوریلائی او روحانی لاربښود «امام شامل» د ۱۸٤۳ نه تر ۱۸٦۹ کلونو پوری کارنامی چی د روسانو په مقابل کی یی کړی دی د یادونی وړ دی. چیچنیایی مسلمانانو دخپل دغه لاربښودسره د ژوند تر اخری وخته پوری د روسانو په مقابل کی خپله توره په ځمکه نه ده ایښي.

یو مشهور روسی افسانه نګار «لیوټالستائ» یو معروف ناول „ The Cossacks „ د چیچنیا د مسلمانانو په بهادری او میړانی لیکلی دی. د امام شامل تر قیادت لاندی د چیچنیا د مسلمانانو کارنامی چی کله اروپا ته ورسیدلی؛ د ټولی اروپا د مطبوعاتو زینت ګرځیدلی ؤ، تر دی چی ملکي «ویکټوریا» پخپله امام شامل ته د مبارکۍ یو لیك هم استولی ؤ. د برطانیی پارلمان د امام شامل او د هغه د تحریك د اخلاقي مرستی اعلان هم کړی ؤ. دا هغه وخت ؤ چی ټوله اروپا له روسی طاقت څخه په ویره کي وه.

اوس هم متقاید جنرال جوهر دودایوف چی (٤۹) کلن شخصیت دی د امام شامل غوندی د روسی کمونستانو په خلاف یی د جهاد اعلان کړی، نومړی په (۱۹٦۷) کال د خپلی وظیفي څخه استعفی ورکړه او د سیاست میدان ته راووت، دروسی فیدراسیون د ټولو مسلمانانو حمایت

او ملاتړ ورته حاصل دی او ښه په قوي سیاسي قوت او همت د روسیې یرغلګرو مقابله کوي. جنرال دوداېوف د ۱۹۹۱ کال د اکتوبر د میاشتې د (۲۷) نیټې په انتخاباتو کې په غوڅ اکثریت ددغه هیواد جمهور رئیس وټاکل شو.

چیچنیا د روسیې سره هیڅ ډول تاریخي، ژبني، مذهبي او جغرافیایي اړیکې نه درلودې بلکې یو نیم سل کاله وړاندې د روسیې جلادانو د جارحیت له امله د روسیې یوه برخه جوړه شوې وه، اوس روسیه د چیچنیاد حکومت د ختمولو لپاره ددوی مخالفینو ته وسلې او نور فوځي مهمات برابروي او د چیچنیا پر ضد یې استعمالوي، د فوځي مهماتو بر سیره ددغه هیواد په ضد په کرایه فوځیان هم لیږي.

د روسیې اوسني حمله چې د چیچنیا د ختمولو لپاره ئې کړې ده امریکا او نور لویدیز هیوادونه د روسې ددې سر تر پایه جارحیت په خلاف هیڅ ډول آواز نه پورته کوي او چپ چاپ سیاست یې خپل کړی دی، له دې څخه داسې معلومیږي چې د روسیې ددې ډول غیر اخلاقي او غیر قانوني حملې په باب روسیې ته د امریکا او نورو اروپایي هیوادونو حمایت او ملا تړ حاصل دی.

که په ظاهره روسي فوځونه دقدرت په زور کامیاب هم شي مګر ددوی دا کامیابي به د یو موقت وخت لپاره وي، ځکه چې د چیچنیا هر مسلمان وګړی د روسیې غلامۍ ته نور سر نه ټیټوی او نه غواړي چې د روسیې له تسلط لاندې ژوند تیر کړي. له دې پرته ددې خبرې قوي امکان دی چې دا جنګ به ټول شمالي قفقاز او تاتاري هیوادونو ته خپور شي.

روسیې استعمار نه یوازې په کمزورو اسلامي هیوادونو دا ډول دردونکي ظلمونه کوي بلکې ټوله کفري نړۍ د مسلمانانو په ضد د پیوستون لاسونه غزوي او په هر ځای کې مسلمانان په سرو وینو لمبیږي مګر نن اسلامي نړۍ د غفلت په خوب ویده ده، نن یو مسلمان د بل مسلمان په درد ځان نه دردوي او یوه بې حسه خاموشي هر مسلمان هیواد خپله کړې ده.

د بالتیک جمهوریتونو له چیچنیا څخه وروسته دآزادۍ اعلان کړی، دوي نه یوازې دا چې په رسمیت و پیژندل شول بلکې په ناتو کې یې غړیتوب هم تر لاسه کړ خو د چیچنیا اسلامي هیواد له آزادۍ وروسته هیڅ یو اسلامي هیواد په رسمیت ونه پیژاند. په عین وخت کې چې روسیې په چیچنیا حمله هم کړې وه په کاسابلانکا کې ددوه پنځوس اسلامي هیوادونو یوه سرمشریزه غونډه وه، په ډیر افسوس سره باید ووایو چې په دې غونډه کې د روسیې ددې یرغل په باب هیڅ ډول یادونه ونه شوه. اسلامي نړۍ نن د کفري ځواکونو د تماشې یوه اله جوړه شوې مګر اسلامي نړۍ په یو غوڅ تصمیم هیڅ ډول عکس العمل نه څرګندوي. یو نیم سل کاله وړاندې امام شامل چې په دې سیمه کې د همدغه کفر په مقابله کې جنګیده، د هغه وخت له اسلامي هیوادونو څخه یې یوازې ددوه توپونو غوښتنه کړې وه مګر یو مسلمان هیواد هم له هغه سره مرسته ونه کړه، له دې وروسته بیا همدغه مسلمانان وو چې ټول د روسیې، فرانسې او برطانیې په غلامۍ کې له پښو څخه وتړل شو، د ذې هوشو مسلمانانو لپاره بس دومره تاریخي عبرت کافي دی. اوس هم هغه ډول تاریخي امتحاني حالات تیریږي او تاریخ یې ثبتوي، که له زوړ تاریخ څخه سبق وا نه خستل شي، د ماضي غوندې به یو ځل بیا د مسلمانانو په وینو نړۍ سره شي ځکه دښمن همیشه لکه د نیم ژواندي مار ګذار ته پروت دی او د موقع په ښکار کې دی.

نماز تراویح و احکام آن

نماز تراویح سنت مطهر رسول الله صلی الله علیه وسلم بوده بعد از اداء نماز عشاء و قبل از نماز وتر خوانده می شود.

معنی تراویح: تراویح جمعه «ترویحه» است که ترویحه یکبار آرام کردن را گویند و این نام را برای این نماز بخاطری انتخاب نموده اند که مردم در آن بعد از هر چهار رکعت آرام مي نشینند، این مطلب را حافظ ابن حجر عسقلاني (رحمه الله) در فتح الباری في شرح بخاري چنین ذکر نموده اند:

«والتراویح جمع ترویحه و هي المرة الواحده من الراحة، سمیت الصلوة في الجماعة في لیالي رمضان التراویح لانهم اول ما اجتمعوا علیها کانوا یستریحون بین کل تسلیمتین»

(فتح الباري في شرح بخاري/ ج٤ص۰۲۵۰)

ترجمه: تراویح جمع ترویحه وصیغهٔ مرت و از راحت مشتق شده است چنانچه این نماز درشب های رمضان با جماعت خوانده می شود و این نام را برایش بخاطری انتخاب نموده که مردم این نماز را با جماعت می خوانند و بعد از هر دو سلام (چار رکعت) می نشیننده و آرام میکنند.

نماز تراویح و تهجد و قیام اللیل و نماز شب اسماء مختلف برای یك نماز است که ما آنرا نماز تراویح می خوانیم؛ بنام تراویح از رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کدام عبادت ثابت نیست بلکه همین تهجد قیام اللیل است که در آحادیث تذکر یافته وما بنام «نماز تراویح» آنرا اداء مینمایم، تمام محدثین کرام بر این اتفاق دارند که قیام اللیل و تهجد و قیام رمضان همین «نماز تراویح» است، در هیچ روایتي ثابت نیست که در ماه مبارك رمضان رسول الله صلی الله علیه وسلم تراویح جدا و تهجد جدا اداء نموده باشند، بلکه همه محدیثین کرام در کتب خویش نماز شب وتهجد و قیام اللیل في رمضان را ذکر نموده اند.

جماعة تراویح: رسول الله صلی الله علیه وسلم صرف سه شب نماز تراویح را با جماعة اداء فرمودند باقي شبها را از بیم اینکه نماز تراویح فرض نگردد با جماعت اداء نکردند، در

حدیث شریف آمده که: «**عن عايشه رضي الله عنها أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى في المسجد ذات ليلة فصلى بصلاته ناس ثم صلىّ من القابلة فكثر الناس ثم اجتمعوا من الليلة الثالثة او الرابعة فلم يخرج اليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما اصبح قال قد رأيت الذي صنعتم فلم يمنعني من الخروج اليكم إلا اني خشيت ان يفرض عليكم قال و ذلك في رمضان**» (رواه مسلم-۱-۲۵۹-مشکوة-ج۱-ص-٤ (۱۱)

ترجمه: ام المؤمنین حضرت عایشة صدیقه رضي الله عنها میفرماید: که یکي از شبها رسول الله صلی الله علیه وسلم در مسجد نماز خواند، مردم نیز عقبش نیت بستند، شب بعد نیز همچنان نماز خواندند و شب سوم چون دیدند که مردم زیاد جمع شده اند شب چارم وقتي مردم جمع شدند، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرون نرفتند، صبح بر مردم فرمودند: من جمع شدن شما را دیدم ولی از بیم آنکه این نماز بر سر شما فرض نه شود بیرون نه آمدم، راوی میگوید که این واقعه در ماه رمضان رخ داده بود.

بعداً در زمان خلافت ابوبکر صدیق رضي الله عنه و آوایل خلافت حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مردم بد از نماز عشاء به شکل انفرادي و یا عقب چند امام گروه علاحده علاحده این نماز تراویح را اداء مي نمودند که شبي حضرت عمر فاروق در عهد خلافتش به مسجد بر آمد، مردم را بدینموال به شکل پراگنده دیدند، به مردم مشوره دادند که نماز تراویح را بعد از این به امامت یك امام با جماعت اداء نمایند، و ابي ابن کعب و تمیم داری رضي الله عنهم را یکي پي دیگری امام مقرر فرمودند.

تعداد رکعات نماز تراویح: با وجود اینکه اکثر علماء و محققین احناف بر این مسئله اقرار میدارند که در هیچ روایت صحیح از پیغمبر صلی الله علیه وسلم ثابت نیست که بیست رکعت نماز تراویح خوانده شده باشد و همه به این حقیقت پی برده که تعداد رکعات نماز تروایح هشت میباشد مگر باز هم اکثر شان به همان بیست رکعت اصرار مي ورزند و انرا هم طوری اداء مینمایند که در عبادت محسوب نمیشود بلکه طوق گردنشان خواهد بود در حدیث شریف می خوانیم که:

«**عن عايشه رضي الله عنها قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي في مابين ان يفرغ من صلوة العشاء الى الفجر احدى عشرة ركعات، يسلم في كل ركعتين و يوتر بواحدة**» (رواه مسلم)

ترجمه: ام المؤمنین حضرت عایشه رضي الله عنها میفرماید که نبي صلی الله علیه وسلم وقتیکه از نماز عشاء فارغ میشد، تا بامداد یازده رکعت نماز اداء می نمود که بعد از هر دو رکعت سلام بر می گشتاند ووتر را یك رکعت اداء مي نمود.

همچنین میفرماید: «**وعن عايشه رضي الله عنها قالت ما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشره ركعة، يصلي اربعاً فلا تسئل عن حسنهن وطولهن، ثم يصلي اربعاً فلا**

تسئل عن حسنهن و طولهن، ثم يصلی ثلثاً» (رواه البخاری)

ترجمه: از عایشه رضي الله عنها روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم در رمضان و غیر رمضان از یازده رکعت نماز زیاده نمی خواند، چهار رکعت را اداء می نمود طوریکه حسن وطول رکعاتش مپرس، باز چهار رکعت را اداء می نمودند قسمیکه از حسن وطولش مپرس، باز سه رکعت اداء می نمودند.

همچنین در حدیثي میخوانیم که: «عن جابر رضي الله عنه قال صلیّ بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم في رمضان ثمان رکعات و اوتر، الخ» (رواه ابن حبان و ابن خزیمه و الطبراني في المعجم الصغیر ص ۱۰۸ ابن نصر في قیام اللیل ص ۱۰۰ و في نیل الأوطار - ۲-۲۹۹-)

ویشهد له حدیث عایشه رضي الله عنه رواه بخاری و مسلم و غیرهما).

ترجمه: حضرت جابر رضي الله عنها میفرماید که ما پشت سر رسول الله صلی الله علیه وسلم در رمضان هشت رکعت نماز ووتر خواندیم و تائید این حدیث را حدیث عایشه رضي الله عنها نیز در بخاري و مسلم کرده است که رسول الله صلی الله علیه وسلم در رمضان و غیر رمضان از یازده رکعات بیشتر نماز نخوانده اند، البته با کیفیتي که در رمضان بسیار حسین و طویل نظر به شبهاي دیگر سال، و این حقیقت را اکثر علماء و محققین احناف در کتب و مؤلفات خویش ذکر نموده اند از جمله صاحب عمده القاري در ج۳ ص ۵۹۷ و صاحب فتح القدیر در ج۱ ص ۱۹۸ صاحب در مختار در ص ۳۸ ذکر نموده و اقرار نمود اند که رکعات مسنون نماز تراویح هشت بوده و حدیث بیست رکعت ضعیف است چون راوی این حدیث ابي شیبه ضعیف و مخالف حدیث صحیح است.

از جمله ابن الهمام میگوید که ابن ابي شیبه در مصنف و طبراني و بیهقي از ابن عباس رضي الله عنهم نقل نموده که رسول الله الله صلی الله علیه وسلم علاوه از وتر بیست رکعت نماز میکرد، این قول ضعیف است زیرا که ابو شیبه ضعیف است و این روایت مخالف روایت صحیح است، علامه عیني میگوید که ابن ابي شیبه بقول شعبه کاذب و دروغگوست و احمد وابن معین و بخاري و نسائی اورا ضعیف قلمداد نموده و علامه جمال الدین زیلعي میگوید که ابن ابي شیبه به اتفاق ضعیف است و ابن عدي در «الکامل» ضعیف دانسته اند، بناءً حدیثي که بروایت ابن ابي شیبه آمده ضعیف و حدیث حضرت عایشه و حضرت جابر صحیح است.

. در باره وتر نیز روایات متعددی مروی است که رسول الله صلی الله علیه وسلم یك رکعت سه رکعت، پنج رکعت، هفت رکعت ونو رکعت نماز خوانده است همچنین طرق اداء نمودن نیز به انحاء مختلف آمده ولی به هر طریقه ایکه برای مصلی درست معلوم شود و عمل نماید انشاء الله درست خواهد بود.

(والله اعلم بالصواب)

پخواني «سریندرسنګ» او اوسنی عبدالله «مسلم» وویل!

د الله تعالی نه شکر ګذاریم چې د تیاری نه رڼا ته راغلم.

د بشري نظام د سمبالښت د پاره چې څومره د اسلام د مبارك دين تعلق دي بې شكه چې د يو مكمل دين په حيث ئې د ټولو اديانو په مينځ كې خپل امتيازي او اعزازي ثبوت ټولي نړۍ ته څرګند كړي دي او قرآن كريم دغه عظيم كتاب چې دانساني ژوندانه په ټولو ابعادو حاوي دي د بيان،بلاغت او فصاحت د نظره تر اوسه داسي څوك نه دي پيدا شوي چې د مسلمانانو د رهنما دي اسلامي وثيقي ته د شك په نظر وګوري بلكه اكثره اديانو داسلام او قرآن حقانيت منلي دي خو دا چې ولي وربانديعمل نه كوي ځانګړي بحث دي چې په دي ربوټ كي ئي ګنجايش نشته دي.

په ننني كمپيوټري زمانه كي چي انسانان د ساينسي تفكر او د معاصرو علومو په بركت ان د شاعر د تخيلي دنيا د سپوږمۍ په انګړكي درسونه او لاربنووني بيا هم د قران كريم له محتوياتو څخه اقتباس شوي او په دنيا كي به داسي وچه او لمده نه وي چي په تفصيلي اواجمالي شكل ئي په دي عظيم كتاب كي ذكر نه وي شوي.

د دي خبري يو بل مثال دا هم كيدي شي چي هميشه دا خبره اوريدي شي چي په فلاني ځاي كي هندو مسلمان شوي دي خو داسي به نه وي پيښ شوي چي مسلمان هندوشوي وي.

دا خپله د اسلام د مبارك دين په حقانيت دلالت كوي. د مجلي خبريال په دي لړ كي همدغسي يو ربوټ برابر كړي او د هغه ځوان سره ئي لنډه مركه كړي ده كوم چي څو كاله وړاندي هندو وو او ديو عميق سوچ او فكر كولو نه وروسته د اسلام په مبارك دين بأندي مشرف شو، دغه ښاغلي عبدالله «مسلم» نوميږي چي پخواني نوم ئي «سريندرسنګ» دي، نوموړي د مجلي د خبريال د څو پوښتنو په مقابل كي جوابونه ويلي دي چي په لاندي متن ورته ستاسو پام راړوو:

پوښتنه:ولي او د كومي انګيزي له مخي د اسلام مبارك دين ته راواوښتي،او په دي برخه كي درته چا بلنه دركړي وه؟

ځواب:بسم الله الرحمن الرحيم ـ ·

پنځه كاله وړاندي مونږ په جلال ـ آباد ښار كي اوسيدو او ايله نوي بلوغ ته رسيدلي وم، زما زياته راشه درشه د مسلمانانو سره وه او داسلامي ضوابطو سره مي علاقه پيدا شوه، څو كسان وو چي زه ورسره پوره بلدوم ماته دهغو له خوا د مسلمان كيدو بلنه راكړشوه ما هم دغه بلنه بې د چون او چرا نه ومنله او د كلمهء طيبي په ويلو سره د لومړي ځل د پاره د تياري او جهالت نه رڼا ته راغلم. په همدغه وخت كي ماخپله كورنۍ پريښوده، د بغلان ولايت ته لاړم او هلته له مامورغيبور سره څو موده پاتي شوم، وروسته له ښاغلي منشي عبدالمجيد سره چي اوس د كورنيو چارود وزارت سرپرست دي د هغه په كور كي اوسيدم او بيا پېښور ته راغلم، دلته د مديني منورې د

دارالایتام د شپږم ټولګي څخه چي کله فارغ شوم په معهدشرعي کي شامل شوم او اوس په اول صنف کي درس وایم خو زه اوس پوه شوي یم. چي زه سمي لاري ته رهنمائي شوي یم او ټولو هغو کسانو چي ماته د مسلمان کیدو دعوت راکړي دي زیات ورنه خوشحاله یم. زه په دي هم پوه شوي یم چي اسلام په ټولو ادیانو کي بهترین او اعلی دین دی اود انسانیت ټول معیارونه پکي ځیرل شوي دي.زه اوس په دي کوشش کي هم یم چي زما خپل خپلوان هندوان مسلمانۍ ته رادعوت کړم تر څوپه دي وسیله د آخرت د عذاب نه وژغورل شي.

پوښتنه: ستاسو مور اوپلار او کورنۍ اوس چرته دي اوستاسو رابطه او راشه درشه ورسره شته دي که نه؟

ځواب: زما مور اوپلار او نور خپل خپلوان دا وخت په کابل کي دي زما پلار چي «سوناسنګ» نومیږي یو لوي تجار دی خو زما ورسره کوم ارتباط نشته دي.

پوښتنه: ولي دي ورسره ارتباط نشته تاسو نه غواړۍ د کورنۍ سره رابطه وساتۍ که څنګه؟

ځواب: زما ارتباط خو ورسره ځکه نشته چي د هندوانو دا یو قانون دي چي څوک د خپل دین څخه واوړي یا څوک مسلمان شي نو کله چي هغه سړي په لاس ورشي ژوندي ئي سیزي او ډیر بې رحمانه چلند ورسره کوي، ځکه نو زه د همدي ویري د خپلي کورنۍ او خپلو خپلوانو سره رابطه نه ساتم اوپه څنګ ورنه ګرځم.

پوښتنه: اوس د یو مسلمان په حیث څه احساس کوي او د مجلي لوستونکو ته په دي لړ کي څه ویل غواړۍ؟

ځواب: زیات خوشحاله یم اود الله تعالی نه شکر ګذاره یم چي په دي مبارک دین مشرف شوي یم او چاچي ماته دعوت راکړي دي لکه چي مخکي مي هم وویل زیاته مننه ورنه کوم او دغه پیرزوینه به ئي هیڅکله هم هیره نکړم.زه چي اوس په شرعي معهد کي دیني زده کړه کوم لوي مقصد مي دادي چي په دیني علومو ځان سمبال کړم او که وکولي شم په یو فرصت کي د کورنۍ غړي هم د تیاري نه رڼا ته راولم. څومره چي زه دیني زده کړه کوم اومعلومات مي زیاتیږي په همغه اندازه مي د اسلام د مبارک دین په حقانیت باندي یقین او تصدیق پخیږي او یوه معنوي خوشحالي راته پیدا کیږي.

پوښتنه: تاسو چي اوس مسلمان شوي یاستئ، تر اوسه پوري مو نوروهندوانو ته د بلني کومه هڅه نه ده کړي او که کړي موده نو د مقابل لوري عکس العمل څه وو؟

ځواب: ما یو وخت په بغلان کي یو شمیر همزولو هندوانو ته د مسلمان کیدو بلنه ورکړي وه خو هغوي زمادغه دعوت قبول نکړ او زما نه ئي پوښتنه وکړه چي تاسو مسلمانان په لمانځه کي رب المسلمین وائي که رب العالمین؟ ما ورته په جواب کي وویل چي رب العالمین، خو هغوي په جواب کي وویل چي په دي وسیله ټول عالم پکي شاملیږي او داسي نه ده چي د مسلمانانو د پاره الله شته او د هندوانو او کافرانو د پاره نشته.

په هغه وخت کي چي ما کافي معلومات نلرل او د نور بحث د پاره راسره قناعت بخښونکي دلایل نه وو، د زیات ټینګارنه تیر شوم خو اوس چي مي د دعوت په لاره کي څه ناڅه زده کړي دي باور لرم چي کله زه د امام بخاري د دي پوهنتون څخه فارغ کیږم انشاءالله چي د زده کړي او معلوماتو ساحه به مي نوره هم پراخه شي او په هغه صورت کي به بیا وکولي شم چي د اسلام مبارک دین ته د دعوت د ډیرو پیچلو مسائلوپه حل او د مقابل لوري د سوالونو جوابونه وویلي شم.

(ومن الله التوفیق)

جذام

(LEPROSY)

افنسوس

ناروغي د انساني ژوند يو همسفر ملگري وي، کله د انسان څخه ورکه او کله ورته ښکاره شي يعني لنډه داچي صحت او ناروغي د ژوند دوه لازم او ملزم اړخونه دي.د ډيرو پخوا زمانو راهيسي انساني ذهن له ناروغيو څخه په ويره کي غورزيدلي او همدي ويري او وسوسي دا مجبور انسان دي ته وهڅاوُ چي د هري ناروغۍ لپاره يو مناسب علاج ولټوي. دا هڅي او کوښښونه وو چي انسان د ډيرو لاعلاجو امراضو په علاج قادر او لاس بري شو، له دي جملي څخه يوه د جذام ناروغي هم ده.

جذام يا LEPROSY يوه ميکروبي ناروغي ده، هغه ميکروب چي د جذام ناروغي منځته راوړي د Mycobacterium-Leprae) په نوم ياديزي.دا ميکروب په ۱۸۷۳ ميلادي کال کي د ناروي يو ډاکټر«جي-هنسن» کشف کړ.دا ميکروب د انسان د بدن په پوستکي او مختلفو اعصابو حمله کوي. د جذام ناروغي پردوه ډوله ده: يو متعدي جذام او بل غير متعدي جذام.

متعدي جذام:

په متعدي جذام کي د انسان مخ، دبدن پوستکي او د غوږونو څندي سري او پړسيږي، په متعدي جذام کي د دي ناروغۍ ډير زيات ميکروبونه ليدل کيږي،دا ميکروبونه تر هغه وخته پوري نورو روغو اشخاصو ته خپريږي، تر څو ئي علاج نه وي شوي.

غيرمتعدي جذام:

په غير متعدي جذام کي په ناروغ کي د دي ناروغۍ ميکروبونه وي مگر د انسان د بدن د دفاعي قوت په وجه دغه ميکروبونه له منځه ځي او پدي ډول ناروغي نورو ته نه خپريږي. په دي ډول جذام کي د انسان په پوستکي سپين يا سره چاپونه (داغونه) ليدل کيږي.

د جذام تشخيص -Diagno-sis: د جذام د ناروغۍ تشخيص له دريوعلايمو څخه کيداي شي، له دغو دريو ډولو علايمو څخه که کومه يوه د انسان په بدن کي څرگنده شي، له تشخيص څخه وروسته بايد سمدستي تداوي شي.د جذام د ناروغۍ دغه دري علايم په لاندي ډول دي:

۱-په پوستکي د سپين رنگه يا سور رنگه داغونو ښکاره کيدل چي ستن، پنسل يا بل کوم تيرهٔ څيز سره وسکونډل شي، که بي حسي ولري د جذام مثبته علامه ده،

۲-حسي اعصاب له کاره غورزيدل .

۳-په پوستکي د جذام د ناروغۍ د ميکروبونو د موجوديت مثبت ثبوت. ·

د جذام علاج Treatment:

زمونږ په گران هيواد کي د تعليم د کموالي په وجه دا ناروغي زر نه پيژندل کيږي او د دي بد قسمتۍ نه ناروغي په انسان کي يا زياتوالي ومومي او يا نورو ته سرايت وکړي.

نوو ساينسي تجربو او تحقيقاتو دا ثابته کړي ده چي د دي ناروغۍ علاج له شپږو مياشتو څخه تر دوه ۆ کالو په موده کي دننه دننه

کیدي شي. مگر د دي نه وړاندي ا ډیره ضروري ده چي د جذام ناروغي باید په وخت وپیژندل شي او تشخیص کړي شي او پخپل وخت ئي علاج او تداوي په داسي شکل ترسره شي لکه څنگه چي یوه عامه ناروغي انسان ته ولگي او په اسانه تداو ي شي.دا ناروغي که چیري په وخت وپیژندل شي او تداوي شي، ناروغ پرته له کومي معذورتیا صحت مند کیدي شي.که د جذام د ناروغۍ علاج په وخت ونه کړي شي، ناروغ په احساس کمترۍ کي وغورزیږي له ټولني څخه زړه توري شي، له دي امله ئي د ناروغۍ اثرات زیات شي او په لاسونو، پښو او مخ ئي اثرات واقع شي.

نوو عصري ساینسي ذریعو د جذام د ناروغي د علاج لپاره دغه دري ډوله دواګاني تعین کړي دي:
RIFA-1
B663-2
DDS-3

که کله ناروغ په دي نوي علاج سره صحت ونه مومي باید له زړې طریقي څخه کار واخستل شي یعني ناروغ د« ډیپسون» پواسطه تداوي کیدي شي.که ناروغي دومره زیاته وي چي لاسونهۍ بي حسه کړي او یا کمزوري کړي وي، د نوموړو درملو په واسطه د جذام عامل میکروب له منځه تلاي شي مگر د بدن د غړو کمزوري او بي حسي نشي ختمیدي. ددي لپاره د بي حسه شوو لاسونو او پښو د زخمونو د ساتني لپاره ناروغ ته ځانگړي پیزار،د چایو پله او داسي نور د ضرورت وړ لوازم استعمالول په کار وي،په دي ډول ناروغ پخپله د خپل ځان ساتنه کوي او سل په سلو کي ځان له زخمي حالت څخه ژغورلاي شي.د عصبي کمزورۍ لپاره ناروغ ته د یو ډول ځانگړو سپورتي تمریناتو ضرورت وي او د امکان په صورت کي د جراحي عملیاتو یذریعه هم فعالیدي شي.

جذام څرنگه سرایت کولاي شي؟

۱-د جذام ناروغي یوازي له هغه ناروغ څخه نورو ته سرایت کوي کوم چي د علاج لاندي نه وي نیول شوي.

۲-د دي ناروغۍ سرایت عموماً له (۲۰-۱۵)فیصده پوري کیدي شي.

۳-د جذام د ناروغ د جسم د مصابو ځایونو څخه میکروبونه خارجیږي او یو روغ انسان ته د جلد له لاري داخلیږي.

٤-له (۹۰) څخه‌تر(۹۵) فیصده پورې خلك د دي ناروغۍ په مقابل کي له وړوکتوب څخه مدافعي قوت لري نو لدي امله دغه ډول خلکو ته دا ناروغي نشي لگیدلاي، کوم شخص چي د دي ناروغۍ په مقابل کي ئي دفاعي قوت کمزوري وي او د کوم جذامي ناروغ ځان پاك،گیلاس او یا داسي نور د هغه د استعمال اشیاء استعمال کړي. د غسي شخص ته دا ناروغي لگیداي شي.

٥- دا ناروغي که د علاج لاندي ونیول شي غیر متعدي یا غیر ساري کیدي شي.

٦- بدن د جذام د میکروب د داخلیدلو او په بدن کي د اثارو د پیداکولو موده کم له کمه د ۳-٥کلونو او زیات نه زیات تر (٤٠) کلونو پوري کیدي شي.

۷- د حفظ الصحي د اصولو نه مراعاتول،په وړو کوروونو کي لویه کورنۍ اوسیدل، خفگان، دمناسب خوراك نه موجودیت او کندگی ددی ناروغۍ د سرایت لپاره یوه ښه میدیا وي.

د جذام د مخنيوي لپاره ځيني احتياطي تدابير:

١–د جذام د ناروغۍ په باره کي کوښښ وکړئ چي زيات نه زيات معلومات حاصل کړئ،تر څو ستاسي د پوهي په وجه مرض زر تشخيص کړي شي‌او په وخت ئي تداوي کړئ.

٢–د جذام په باره کي نورو عامو خلکو ته هم د دي مرض د پيژندني معلومات ورکړئ، تر څو دوي هم مرض پخپل وخت تر نظارت لاندي ونيسي او د علاج اقدام ئي وکړي.

٣–که ستاسي او يا تاسي د بل چا په جسم دغه ډول مشکوکي نخښي هم ووينئ، دغه مشکوک شخص د معايني لپاره د جذام ډاکتر ته واستوئ.

٤–خپل چاپيريال، کور، جسم او نور د استعمال وړ لوښي پاک وساتئ، په پاکو لاسونو ډوډي وخورئ، پزه او لاړي بي ځايه مه غورزوئ،په دي عادت سره له جذام څخه پرته دنورو ډيرو ناروغيو مخنيوي هم کيدي شي.

٥–د جذام په ناروغۍ اخته ناروغ زر تر زره د مستقل علاج لپاره ترغيب کړئ.

٦–په جذام مصاب پوستکي يا زخم پاك او د پلستر يا پانسمان پذريعه پټ وساتئ، د جذام د مصابو ځايونو له لوڅ ساتلو څخه دا ناروغي نورو ته په اسانۍ سرايت کوي.

٧–تر اوسه د جذام د مخنيوي واکسين نه دي کشف شوي مگر د موجوده ساينسي تحقيقاتو او څيړنو څخه دا اميد دي چي په نزدي څو کالو کي به ددي مضري ناروغۍ مخنيوي د واکسينو پذريعه ممکن شي.

جذام يو قابل علاج مرض دي، له بده مرغه زمونږ د هيواد په اکثره خلکو کي د جذام په باب غلط او مبهم تصورات مشهور شوي دي چي «دا ناروغي کله چي انسان د ماهي غوښه وخوري او لدي وروسته شيدي وڅکي،پدي مرض اخته کيږي».

جذام لکه د نورو ميکروبي ناروغيو غوندي يوه ميکروبي ناروغي ده چي جلداو اعصاب متاثره کوي،جذام د ساري ناروغيو له جملي څخه هغه ناروغي ده کومه چي د نورو ناروغيو په نسبت ډير کم سرايت کوي،ځکه ددي ناروغۍ ميکروبونه له جسم څخه بهر د زيات وخت لپاره ژوندي نشي پاتي کيدي.

درنو لوستونکو!

تاسي هم کولاي شي چي د جذام ناروغي له لاندينو اعراضو او علايمو څخه تشخيص کړئ.

* په پوستکي سپکي غوندي سپيني يا سري نخښي او داغونه چي انسان تري هيڅ ډول تکليف نه محسوسوي.
* دا ډول نخښي به له (٦)شپږو هفتو څخه زړي وي.
* خارښ نلري .
* د نورو درملو په علاج سره نه وي ښي شوي.

د پنسل يا د ستني څوکه که په نوموړي نخښه کي ورو غوندي ورکړئ، که ناروغ ته درد محسوس نه شي، بي له شکه جذام دي.

* د مخ پوستکي هر وخت زخيم او سور رنگه معلوميږي.
* د غوږونو پوڅۍ(نرمي) پړسيږي.
* خارښ نه لري.
* وروځي رژيږي.

که گوتي کمزوري يا د لاسونو په نورو برخو کي تناکي يا زخم وي او کومه وجه ئي معلومه نه وي،زر تر زره ئي بايد د جذام لپاره معاينه وکړل شي.

د سترگو ليدلي حال

غلام حضرت «خيوه وال»

نـوي نـوي دسيسي ورتـه جـوړيـږي
هرطـرفته مـو مـظلوم ملت قتليـږي

څـوك په يونوم كړي بدنام اوڅوك په بله
يم حيـران دا خـلك ولي نـه پوهيـږي

ښـه آبـاد وطـن زمونږ خـاوري ايري شو
رب دي خير كاندي چي نور به لاڅه كيږي

څه ښادي او خوشحالي وطن كي نشته
غـم ويرونـه دي چـه هر كوڅـه كي كيږي

يو غـم ندي غـم د پاسـه دي غـمونه
په رعيت مو د هيچـا زړه نه خوگيـږي

ښه پوهيري«خو»نه پوهيږي دامتل دي
افـغـانـان نـوولي نـه يـومـوټي كيـږي

افغانان كه چيرېټول يواتفـاق شي
دا منتر د مـداري كـلـه چـليـږي

خـو افسوس چـي اتفاق اتحـاد نشته
ځـكه مونږ باندي دا سخت عمر تيريږي

اي «حضرته» گيـله مـكوه دچـانـه
چي څه ليك وي په تقدير كي دا رسيږي.

غوره وینا وي

ژباړه: ابو ولید

*** ښه او بد خصلتونه:**

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي:دوه خصلتونه داسي دي چي له هغي نه نور ښه څیزونه نشته.

یو په الله تعالي باندي ایمان لرل او بل مسلمانانو ته خیر رسول یعني د هغوي خیرخواهي او دوه خصلتونه داسي دي چي له هغي نه نور بد څیزونه نشته ، یو له الله تعالي سره شرک او بل مسلمانانو ته ضرر رسول.

*** محرومیاني:**

رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:څوک چي پنځه ډوله انسانانو ته د حقارت په سترګه وګوري هغه له پنځه ؤڅیزونوڅخه محرومیږي.

۱-څوک چي علماؤ ته په سپکه وګوري هغه له دین نه محرومیږي.

۲-څوک چي امراؤ ته په سپکه وګوري هغه له دنیا نه محرومیږي.

۳-څوک چي خپلو خپلوانو ته په سپکه وګوري هغه په دوستي کي نقصاني کیږي.

٤-څوک چي خپلو ګاونډیانو ته په سپکه وګوري هغه له نفعي (فائدي)څخه محرومیږي.

٥-اوڅوک چي خپلي ښځي(میرمني)ته په سپکه وګوري هغه له ښه ژوند څخه محرومیږي.

*** د حضور صلی‌الله‌علیه وسلم اندیښنه:**

نبي کریم صلي‌الله‌علیه وسلم فرمایلي ؤ! هغه وخت ډیر نږدي دي چي زما امت به له پنځو څیزونو سره محبت شروع کړي او پنځه څیزونه به هیر کړي.

۱-له دنیا سره به محبت کوي او آخرت به هیر کړي.
۲-له کورونو سره به محبت کوي او قبرونه به هیر کړي.
۳- له اهل و عیال سره به محبت کوي او حوري غلمان(جنتي نعمتونه) به هیر کړي.
٤- له مال سره به محبت کوي خو د حساب کتاب ورځ به هیره کړي.
۵-دنفس تابع به شي اوالله تعالي به هیر کړي.نو دغه ډول خلک زما نه بیزاره دي اوزه له هغوي نه ۰ * غنیمت گڼل:
د انسایت محسن(صلی الله علیه وسلم) فرمائي! پنځه څیزونه له پنځو څیزونو څخه وړاندي غنیمت وګڼئ.
۱- ځواني لهبوډا توب نه مخکي.
۲- روغ صحت له مریضي نه مخکي .
۳- غني توب له فقیري نه مخکي.
٤- ژوند له مرگ نه مخکي .
۵- او فراغت له مصروفیت نه مخکي.
* د خلفاؤ راشدینو وینا وي.
حضرت ابوبکر صدیق(رضي الله عنه) فرمائي:پنځه رڼاګاني دي او پنځه تیارې.
۱- له دنیا سره محبت تیاره ده او رڼا ئي پرهیزګاري.
۲-ګناه تیاره ده اوتوبه ئي رڼا.
۳-قبر تیاره دي او لااله الاالله محمدرسول الله ئي رڼا.
٤- آخرت تیاره دي او نیک عمل ئي رڼا.
۵- پل صراط تیاره دي او په هغه یقین لرل رڼا.
* جنتي خلک:
حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) فرمائي: پنځه ډوله خلک جنتیان دي.
۱-عیالداره مسکین.
۲-هغه ښځه چي خاوند تري خوشحاله وي.
۳- هغه ښځه چي خپل محرخپل خاوند ته وبخښي.
٤- هغه اولاد چي مور اوپلار تري راضي وي.
۵- او د ګناهونو نه توبه کوونکي انسان.

راشه راشه !

دحق په قافلــو کې راروانه راشه راشه
الحاد او کفر یوسه اي طوفانه راشه راشــه

دا توري شپې سبا کړه ورته لمر د سباوون شه
د وخت په انقــلاب کې قهرمانه راشه راشه

هم سري وینې بهیزي هر مخ په اوبنکــو لوند دی
بیچــارو ته مرهـــــه او درمـــانه راشه راشه

نور صبر وسکون نشته انتهاء کې د ظلمونو
سهـر ته ایسار نشي له بیـگانه راشه راشه

آسمـــان د آرزوگانو مي آهونه په اور ســـوزي
په حـال مي لږ خبر شه مسـلمانه راشــه راشـه

د ظلم سمندر کی می نن ټول ملت غرق کیږی
مظلوم ترینه رانیسه جاله وانه راشـــه راشه

انســان پکې وریتیږی ترینه چار چاپیره اور دی
پری پاســـه لو وریږه اي بارانه راشــه راشـــه

په لار د انتظار کی دې پراته ترلی ډیر دی
رامات کـره ځنځیرونه له زندانه راشه راشه

زما په ژوند یو ځلـــي راتگ دي لازمـــي دي
«افســوس» در پسي مر شوم له آرمانه راشه راشه

******

د نړۍ د سُني مسلمانانو په نوم

د بوسنيا دمسلمانانو پيغام

ژباړن: لعل محمد «افسوس»

د بوسنيا مسلمانان د نړۍ ټولو سني مسلمانانو ته دا اواز کوی او غواړی چی ټول سنی مسلمانان باید دي ټکی ته متوجه شي:

ایرانی شیعه گان کوښښ کوی چی شیعیت په ټوله بوسنیا کی خپور کړی او د بوسنیا په مسلمانانو کی داسی تاثر وشیندی چی سنی مسلمانان د شیعه عقیدی خپلولو ته اړ کړی.

محترمو علماء کرامو، مبلغینو او د علم خاوندانو!

ستاسی په بوسنیاوی ورونو کی شیعه عقیده په دی ډول خپریږی چی ایرانی شیعه گانو له بوسنیاوی خویندو سره ودونه کول پیل کړی دی، نه زمونږ سره نن وخت کوم اسباب شته او نه کوم قدرت. دا ډول هر څه د ایرانی حکومت د ټاکل شوی پلان له مخي په بوسنیا کی تر سره کیږی، مونږ د بوسنیا سنی مسلمانان دا پیغام د اسلامي نړۍ دسني مسلمانانو غوږونو ته عرض کول غواړو!

د ایران حکومت ایران دسرې میاشتی په نوم د بوسنیا د شهیدانو کورنیو ته د خوراکی موادو د ورکولو یو پراخ پروگرام جوړ کړی دي، یو دینی فرهنگی مرکز یی هم خلاص کړی چی په کی شیعه علماء د جعفریه فقهي، عقیدی، قرآن، عربي او فارسي ژبي تدریس کوی، دا ټولی ښوونی دجعفریه مذهب په بنیاد ورکول کیږی؛ په دی مرکز کی بوسنیاوی زده-کوونکو ته د هستوگنی او خوراك سهولتونه ورکړل شوی دی، همدارنگه په دی مرکز کی د جعفری مذهب کتابونه هم شایع کیږی. ددی مرکز چلوونکی بوسنیاوی زده کوونکو ته وایي: څرنگه چی د څلور واړو امامانو مذاهب اسلامي دی، دا ډول دا جعفری مذهب هم یو اسلامي مذهب دی. ددی مرکز مذهبي لارښود امام جعفر او د فوځي تربیت ورکولو یو قوماندان عباس د بوسنیا د سنی مسلمانو پیغلو سره ودونه هم کړی دی.

د بوسنیا دفیسکو ښار ته نژدی یو کلی چی «هغوه» نومیږي، دلته یی هم د زده کړي یو مرکز جوړ کړی دی چی ځایی خلکو ته پکی د هر ډول وسلی زده کړی ورکول کیږی. د فیسکو د ښار ځینی مشران هم د ایران د حکومت په بلنه ایران ته بلل شوی دی، د فیسکو دغه مشران چی د ایران حکومت یی د خپلی شیعه عقیدی لپاره ذهنونه خپلول غواړی؛ له دی جملی څخه د اسلامي جمهوری جماعت رهبر سرشاد شهانو فیتش، دزینتیشا دښار ددعوت پوهنتون پروفیسور رامزه علی اهمیوفیش، مالکو عمر بیکو فیتش (عبداللطیف) چی یو فوځي افسر دی؛ نومونه دیادونی وړ دی.

په دی ډول ایرانی شیعه گان له ډیری پټی طریقي او چل څخه کار اخلی او د یو اوږد پلان لاندی کار کوی، دوي ددی پلان د عملی کولو لپاره لومړی د کروشیا له حکومت سره خپل تعلقات قایم کړل او په دی لړ کې-یې د کروشیا له حکومت سره یوه معاهده وکړه چی ایران به په کروشیا

کی د بحری جهازونو یوه کارخانه جوړوی چی دیرش زره کروشیایی کارګران به ددی بحری جهازونو په کارخانه کی کار کوی. د ایران د دي معاهدی او سفارتی اړیکو په وجه کروشیا ته د ایرانیانو د تګ راتګ او بحری جهازونو په ذریعه د سامان الاتو دنقلولو زمینه برابره شوه. څرنګه چی کروشیا ته دا ډول سهولتونه حاصل شول نو اوس ایران دبوسنیا د فیسکو په ښار کی یو فوځي هوایی ډګر جوړوی چی فعلاً د ایران (۸) هیلی کوپترونه د ایرانی سامان الاتو په نقلولو بوخت دی.

«کاکان» چی د بوسنیا یوه سیمه ده، دلته هم ایرانیانو یو عسکری مرکز جوړ کړی دي، په دی مرکز کی د فوځي تربیت سربیره د جعفری مذهب دنشر و اشاعت کوښښ هم کیږی.

په دی ډول ایران د بوسنیائی مسلمانو ځوانانو لپاره کلبونه، ادبی غونډی او مذهبی پروګرامونه تشکیلوی، متعه رواجونه ورکوی او د بوسنیایی جینکو سره ودونه کوی. د جعفری مذهب کتابونه او رسالی شایع کوی. ددی کتابونو له جملی څخه یی د سیرت کتاب هم شایع کړي دی، په دی کتاب کی لوی لوی او جلیل القدر صحابه کرام نظر انداز شوی دی او د حضرت علی رضي الله عنه د دور مفصل ذکر یی کړی دی. په دی کتاب کی د حضرت ابو بکر صدیق، حضرت عمرفاروق او حضرت عثمان رضي الله عنهم هیڅ یادونه نشته او د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه په ذات یی ډیر زیاتی کړی دی.

هره ورځ په بوسنیا کی د خمینی او خامنایی تصویرونه په خلکو تقسیمیږی چی د خمینی د تصویر لاندی یی د «روح الله» الفاظ هم لیکلی وی. په دی ډول د مسلمانانو په زړونو کی د خپلی همدردی د احساساتو د را پارولو لپاره ځانونه د ټول عالم اسلام همدرد ګڼی.

ای د حدیث او سنت نوم اخستونکو او د صحابه ؤمینه والو!

وروایاست چی تر څو به مونږ جنګیږو او ستاسو له خوانه به مونږ ته څوك راځی.... ؟!

مونږ د علم خاوندانو ته ضرورت لرو او اصلاح کوونکو ته هم. او هغه چاته ضرورت لرو چاته چی الله تعالی مال ورکړی وی او هغه مال په دی لاره کی مصرف کړی. مونږ په غمګینو زړونو تاسو ته دا آواز کوو! هغه به څوك وی چی د الله تعال ددین مدد وکړی...!؟

اي الله! مونږخپل فرض اداء کړل، ته دي په دي ګواه شي!

قدرمنو لوستونکو: تاسی ته دی معلومه وی چی شیخ عبدالعزیز په بوسنیا کی د عملی جهاد یو پروګرام پیل کړی دی او د ځینو اسلامي هیوادونو ځوانان هلته ځی او په جهاد کی ګډون کوی.

الله تعالی ددوی دغه کوښښ مثمره کوی او ورځ په ورځ نوی نوی کامیابی حاصلوی، مجاهدین له جهاد سره سره دقرآن او سنت دنشر واشاعت اهتمام هم کوی مګر د وسایلو د کموالی له امله دا کار څومره چی ضرورت دی په هغه پیمانه نه دی البته یوازی کوښښ دی، ددی کوښښونو نتیجه ده چی د زینیتشا د ښار په قتیبه جومات کی د ځوانانو ددینی روزنی پروګرام پیل شوی دی، دوهم ددینی کتابونو د چاپ کولو پروګرام دی چی له دی جملی څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او الرحیق المختوم په بوسنیایی ژبه ترجمه شوې او چاپ شویدی، اوس دا کتابونه ددعوتی دورو او پروګرامونو څخه پرته د مجاهدینو د روزنی په مرکز کی په نصابی ډول شامل شوی دی. همدارنګه د نورو پروګرامونو لپاره هم نصاب وضع شوی او زر ده چی پیل شي، پدی پروګرام کی عربی ژبه او تجوید، اصول تفسیر، سیرت، اصطلاحات حدیث، هغه احادیث چی هغه اخلاق او زړه ترمونکی وی او تقوی پیدا کوونکی وی پدی پروګرام کی شامل دی. له دی پرته په ټوله بوسنیا کی د مجاهدینو او زخمیانو صحي پروګرامونه شروع کیدونکی دی.

مونږ غواړو چی دا دعوتی، جهادی، تعلیمی او دا ډول نور مرستندویه کارونه مخ په وړاندی لاړ شی، په دی وخت کی د مسلمانانو کسالت او لټي کول یو نه بخښونکی جرم دی. په دی حساس وخت کی که د بوسنیا د مجبورو مسلمانانو وړونو سره مرستی ونه شی؛ دوی د رافضیت کندو ته غورزیدونکی دی.

لیدلی اوریدلی

جمال کوتوال

دشیطان غوزونه دی کانه وی په تورخم بندر کی په تگ راتگ باندی دپخوا په نسبت بندیز نرم شوی دی او یوازی دهغو کسانو څخه د بندرنه د تیریدو په مقصد پنځوس کلداری اخستل کیزی چی یا بیخی نا بلده وی او یا هم هر چیری د پیسو په ورکړه عادت وی گني د لږ انتظار نه وروسته را اوښتی شي.

زه چي د یو راپوتاژ د تهیه کولو دپاره دپیښبور نه د جلال آباد په لوری وخوځیدم، په تورخم کی نه د پخوا په شان ټیل ماټیل، وهل ټکول وو او نه برالا پیسی اخستل کیدی ځکه نو کیدی شی د غه نرمښت په کرار کرار په سهولت بدل شی او که چیری د افغانانو مطالبو ته د پاکستان واکمنان غوږ ونیسی او دمشکلاتو نه ئی ځانونه خبر کړی کیدی شی د پاك افغان د دوستی په رڼا کی د پخوا په شان دغه بندیزونه لیری هم کړی شی خو اوس ئی څه خاصه پیش بیني نشي کیدی.

پوره دوه بجي وی چی د جلال آباد ښار ته ورسیدم د تالاشي په چوك کی چی کوم ازدحام وو په یقیني توگه سړي ویلی شی چی د جلال- آباد د ښار نفوس د خپل اصلی گنجایش نه دوه برابره شوي دی چی اوس هم ورته د کابل جنگ ځپلی او د نورو ولایاتو خلق را چلیزی. د جلال آباد ښار چی د ککړتیا اخیری حد ته رسیدلی او د جارو کولو نه وتلي دی محیني ښاریان خو چی د نظافت او د ځان د مینځلو سره عادت وی مجبور دی سهار او ماښام په کوروتو کی استحمام وکړی. د جلال آباد ښاروالی وائی چی د نفوسو د کثرت او د اصنافو د عدم همکاری په وجه ئی د ښار دپاکوالی مسئله ډیره کړکیچنه کړی ده او دوی نشي کولی په لندو تنکو وسایلو سره په خپل وخت د ښار ټولی برخی پاکی کړی که څه هم څه موده مخکی غیر دولتي ادارو د امریکی د متحده آیالاتو په کومکی دالرو باندی د جلال آباد د ښار د پاکوالي اعلانونه وکړل او چلنج ئی ورکړ چی د ښار د پاکوالی کثافات به ایسته و غورځولی شی او د کانالیزایسون عصری سیستم به ئی فعال کړی شي خو داسی ښرگنده شوه چي دا هم هسی دبادو خواړه وو دالر مصرف شول خو ښار هماغسی په دوړو او گردونو کی پټ دی او د کثافاتو انبارونه لا په خپل ځای درانه پراته دی.

د جلال آباد ښار اکثره پلی لاری گرځنده هتی والو او ټبنگ والاو قبضه کړی دی ان تر دی پوری چی سلمانیانو هم په پلو لارو کی ځوکی اچولی دی او د ویښتانو داصلاح کولو عملیات کوی او د ښار نا- پرسان په شکل هر څوك داسی عادت شوي دی چی هر چیري موټر دروي او که هر ځای کي څادر غوروی او هر چیری کار و بار شروع کوی دائی مسلم حق دی.

په ښار کی که څه هم دپخوا په نسبت وسله وال کسان کم لیدلی کیزی خو هر رئیس او لوی مدیر چي په عین حال کي جهادی قوماندانان هم دی سهار د حاضری دپاره خپلو دفترونو ته په خپلو خپلو ډاکسونو کی ځی کم ترکم شل دیرش کسان چی په کلاشنکوفونو او راکټونو سمبالوی دځانونو سره

وړی او هلته بی کاره او بی روزګاره
د ادارو په مدخلونو کی ټوله ورځ
په چای څښلو لګیاوی.

وائی چی که دغه وسله وال کسان
په نورو جوړونکو کارونو بوخت
شوی وائی او یا لږ تر لږه دباډی
ګارډانو اوسنی ګراف لږ راټیټ
شوی وائی دوسلی د کنټرول سره ئی
هم پوره مرسته کولی شوه.

ما د جلال آباد په ښار کی د
څارندوی یو داسی ګروپ هم ولیده
چی په ښار کی ئی د ببرو سرونو د
کمولو دپاره ګزمه کوله او که څوک
به ئی پیدا کړ چی ویښتان ئی د
اندازی زیات اوږده دی د قیچی
کولو عملیات ئی هم سرته رسول.

خو چی کله ما د امنیه قوماندان
څخه پوښتنه وکړه چی ایا د
ویښتانو کمول ستاسو هدایت دی
او بی له توپیره به دغه پروګرام
عملی شی؟ وی ویل هوکې؛ موږ
تصمیم نیولی دي چي بی له مقابلی
څخه دغه لړۍ تر سره کړو، خو
داسی څرګندیږی چی د دي پروګرام
عملی کول به په ټولو وسله والو او
بی وسلي کسانو باندې سخت وی.

د یادونی وړ ده چي په جلال آباد
کي د شرعی نظام د انفاذ سره د هر
چا مینه ده د لمانځه په وختونو کی
په جوماتونو کی ګڼی ګڼی جمعی
ودریږی او د لمانځه په وخت کی
دوکانونه بندول يې یو ژوندی ثبوت
دئ، دلته د ارشاد اسلامي له خوا د
روژی دمبارکی میاشتي په اوږدو
کی د قرآن کریم ختمونو او تراویح
د پاره ځانګړی فهرستونه عملی
شوی وو. د جماعت الدعوت الی
القرآن والسنة د ولایتی دفتر یوي
سرچینی ماته وویل چي ددی
جماعت له خوا د عربانو په جامع
مسجد د فارم هدی او حصار شاهي
ددوسرکی مهاجرینو په کمپ کی د
تفسیر شریف ددوری او ترجمي د
پاره دوه وتلی عالمان موظف کړی
شوی دی.

سر چینی دا هم وویل چي په فارم
هده کی ښځینه مهاجرینو هم
غوښتنه کړی ده چي دوی هم دقرآن
کریم په ترجمه کي ګډون وکړی،
دفتر وویل چی ددوي دغه مطالبه
منل شوی ده او د جومات سره
نیږدی ورته د ترجمی د اوریدو
دپاره تجهیز وهل شوی دی.

تر څو دوي هم وکولی شی د نارینه-
وُ په شان د الله تعالی د کتاب د
ارشاداتو او حکمونو څخه خبری
شي هماغسی چی مخکی وویل شو
د جلال اباد په ښار کی د خپل
ښاری ګنجایش او ظرفیت نه دوه
برابره خلق راټول شوی دی او داسی
ولایت به نه وی چی د هغی
اوسیدونکي دلته نه وی موجود دا
ټول د مهاجرینو په شکل کی دی
او د نظره دی نشي همدا ننګرهار
دی چی د امن د کور په حیث یی
شهرت پیدا کړی دی. دغه لرغونی
ښار اوس نه یوازې د عامو خلقو د
پاره د ګذاری یو مرکزیت ګرځیدلی
دي بلکه د کل په حیث د
افغانستان د سیاسی صورت حال د
رغونی دپاره هم پکی کله کله افغان
مشران جرګه کیږی او د صلحي
لوظنامی دستخط کوي خو چی د
بده مرغه یوه لوظنامه هم لانه ده
عملی شوی ننګرهار خپل نقش او
کردار اداء کړی دی خو دا مشران
دی چی یو بل نشي تحمل کولی او
هر یو پکی وتلی او مخکښ نقش
غواړی.

که سړی د جلال آباد په ښار کی یو
نظر واچوي نو ډیر زرورته
څرګندیږي چی په سلو کی اویا
پکی مهاجرین دی چی اکثریت ئی د
کابل جنګ ځپلی دی د ننګرهار د
مهاجرینو د ریاست د یو رپوټ
مطابق چي د ملګرو ملتو های
کمشنری هم تایید کړی دی دا وخت
څه د پاسه دوه لکه مهاجرین په بیلا
بیلو کمپونو کی دی اودری لکه کم
وزیات ئی د ښار په دننه او شاؤ
خوا کی د خپلو خپلوانو او کرایی
کوررونو کی اوسیږی.

یو ګدای ګر چی هر چاته ئی د سوال
لاس اوږداوه او په څلورو اندامونو
بیخي روغ وو زما یو ملګر پری
اعتراض وکړ چي یار په دی ځوانی
کی د سوال کولو څه مجبوریت لري
په ژړغونی لهجه ئی وویل پنځه
میاشتی کیږی چی د کابل نه راغلی

یم ددوسرکی په ډاګ کی دلس سره کورنۍ سره پروت یم نه چا خیمه راکړه او نه مې د مرستی مواد اخیستی. کار هم نه پیدا کیږی، څه وکړم، دولږی د سختی تنگسۍ سره مخ یم. د سوال گر ددی خبری په اوریدو سره زما انسانی عواطف هم تحریك شول او د نوموړی کمپ د لیدلو فیصله می وکړه.

د حصار شاهی د دوسره کې کمپ چی د تیر کال د جدی دیولسم تاریخ د تمام عیارو جنگونو د شروع کیدو سره جخت هغه وخت چی شرقي او مسلمان گاوندی ملك ورباندی دروازی وتړلی او دائی د خپل ملك د پاره دمصیبت ځپلو یو سیاسی سیلاوُ وبللو دننگرهار د جهادی شورئ په تیره بیا د حاجی عبدالقدیر په اهتمام جوړ شو.

دغه کمپ چی اوس د هیواد په داخل کی د ټولو نه لوی کمپ دی د ټولو نه زیات غمونه او مشکلات هم همدی دستی ته راټول شوی دی.

که څه هم دغه کمپ د نقشی مطابق دی. بنوونځی، صحي کلینکونه، جوماتونه او مارکیټونه هم لری خو هغه وخت چی مهاجر و پوښتل شی یو عالم مشکلات او پرابلمونه لری او د جنگونو دیوی خونړۍ تراژیدۍ نه پرته بل پیام نلری هغه وخت چی سړی دکمپ متن ته ورداخل شی او د مهاجرو د کورنیو فعل او انفعالات وگوری پوهیږی چی جنگونه څومره لوی مصیبت دی او مهاجرت څومره تریخ دی.

د کمپ د یو مسؤل په ملگرتیا د هغو کسانو خیمی ته ورغلم کوم چی دپنځو میاشتو راهیسی د خیمو او د مرستی د موادو په تمه شپی او ورځی تیروی او د مرگ او ژوند تر منځ په سخته تنگسه کی ترپکی وهي.

د عنایت په نوم یو مهاجر راته وویل پوره پنځه میاشتی وشوی چی د خیمی او مواد د ترلاسه کولو په تمه دې وچ ډاگ کی پراته یو خو د هیچا زړه را باندی لانه دی سوځیدلی او اوس هم راته د شك په نظر گوری. په څو دقیقو کی نژدی دوه سوه کسان بنځی - سړی او ماشومان په دی نیت راټول شول چې گني زه ورته د خیمو او د مرستی د موادو د ورکولو کوم خبر او پیغام لرم. شکایتونه بیخي زیات شول د ولږی،ناروغتیا او مړینی خبری خو لا څه کوی چی حتی په استناد سره راته دا خبره هم وشوه چی د مزار-شریف یو اوسیدونکی چی ذبیح الله نومیږی او د پنځو میاشتو راهیسی دلته پروت وو د ولږی سره د مقابلی نه وروسته ئی بالآخیره خپله یوه پنځه کلنه لور او دری کلن زوی په یو سړی باندی و پلورل ما غوښتل دپلورل شوو ماشومانو مور او پلار و گورم خو نیژدی گاوندیانو ئی وویل چی د ماشومانو پلار ښار ته د گدائی د پاره تللی دی او مور ئی چی اعصاب ئی د لاسه ورکړی دی د هیچا سره خبری نکوی.

په خبرو خبرو کی چی هر جمله ئی د غم او مصیبت د نظره د راکټ ویشتلو نه کمه نه وه داسی حالات هم مینځ ته راغلل چی د مرکي په وخت د ژړاگانو او د ناره الله اکبر تکبیرونو او انگازو د ټول کمپ اوسیدونکی را وخوځول څکه نو زه نشم کولی ټول هغه شکایتونه، حکایتونه او حقایق چی ما د یو خبریال په حیث واوریدل هغه ټول دلته په دی رپوټ کی تمثیل کړم په دی کمپ کی د توزیع د مدیر بناغلی گلا جان شیرزاد له قوله دا ټولي دوه زره او دوه سوه کورنی دی چی د پنځو میاشتو نه را په دی خوا په سپین ډاگ پرتی دی او هیڅ مرسته ورسره نه ده شوی.

ده د مهاجرینو د مشکلاتو او مصایبو تصدیق وکړ خو د ملگرو ملتونو کار کوونکو د محینو خو د غرضه کسانو د شکایت په وجه چی گنیُ دا د جنگ مهاجرین نه دی هیڅ پوښتنه ئی نه کیږی په داسي حال کی چی مونږ د مرستي د پاره د مهاجرینو په حیث راجستر کړی دی او ددی مستحق دی چی خیمی او مواد ورته ورکړی شی خو لا غوڅ اجراءت نه دی شوی.

###

پرسشهاي شما در پرتو

قرآن و سنت

برادر گرامي ما محمد انور از کیمپ جلوزي ضمن سلام مسنونه و احوال پرسی پرسیده اند که:

۱- بعضي مردم روزهای جمعه را برای روزه و شب جمعه را برای نماز خاص میکنند ومیگویند که در روزهای جمعه ثواب اعمال نافله مضاعف میگردد، حقیقت موضوع را در روشني قرآن و سنت توضیح نمائید؟

۲- بعضي مردم خصوصاً ایرانیها عادت دارند میگویند «برسر فلان قسم» ویا «به رسول خدا قسم» و یا بر سر اولاد ویا بر سر پدرم و یا به «ابوالفضل» قسم یاد میکنند، حیثیت شرعي این قسم قسم خوردن چطور است؟ واضح نمائید که بسیاری افراد به این مرض گرفتار اند.

برادر عزیز محمد انور خان! به سلام های گرم و صمیمانهء شما وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، گفته بامید نامه های دیگر شما میپردازیم به جواب سوالهای شما:

روز جمعه از جملهء روزهای است که فضیلتش در بعضي از روایات آمده و در قرآنکریم نیز باین نام سورتی ذکر شده که در آن به مسلمانان به اداء فریضه نماز جمعه ترغیب داده شده است، ولی معنایش این نیست که عبادت روزهای خاص دارد و در دیگر روزها انجام دادن آن درست نیست بلکه بر عکس رسول الله صلی الله علیه وسلم از خاص نمودن روزه جمعه براي روزه و شب جمعه برای نماز منع فرموده است مثلاً:

«عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لا تخصوا ليلة الجمعه بقيام من بين الليالي، ولا تخصوا يوم الجمعة بصيام من بين الأيام إلا أن يكون في صوم يصومه احدكم» (رواه مسلم)

ترجمه: از ابو هريرة رضي الله عنه روایت است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: «از میان شبها شب جمعه را به نماز و از بین

روزها روز جمعه را به روزه اختصاص ندهید مگر اینکه روزه ای باشد که یکی از شما آن را روزه میگرد.

توضیح: اشخاص نیکو کار ومتقي اي وجود دارد که آیام بیض را روزه میگیرند یعني در هر ماه سه روز یا در اول یا در وسط و یا در آخر ماه روزه میگیرند اگر همچو اشخاص یکي از روزهاي روزه اش با جمعه مصادف باشد عیب ندارد که درین صورت اکثراً سه روز مسلسل روزه میگیرند مثلاً آن روزها چهار، پنجشنبه، جمعه ویا شنبه و جمعه و پنجشنبه و یا جمعه و شنبه و یکشنبه میباشند، در غیر اینصورت مشخص باین نیت که هر روز جمعه باید روزه بگیرم تا ثواب زیاد نصیبم شود، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم از آن منع فرموده است، در حدیث دیگری آمده:

«وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «لايصومنّ احدكم يوم الجمعه إلا يوماً قبله او بعده» (متفق عليه)

ترجمه: از ابو هريرة رضي الله عنه روایت است که گفت از رسول الله صلى الله علیه وسلم شنیدم که میفرمود: هیچکدام شما روز جمعه را روزه میگرد مگر همراه با روزی که پیش از آن است و یابعد از آن در حدیث دیگری ارشاد است :

«وعن محمد بن عباد قال: سألت جابرا رضي الله عنه: أنهى النبي صلى الله عليه وسلم عن صوم يوم الجمعه؟ قال :نعم» (متفق عليه)

ترجمه: از محمد بن عباد روایت است که گفت از جابر رضي الله عنه پرسیدم که آیا پیامبر صلی الله علیه وسلم از روزه روز جمعه منع فرمود ؟ گفت بلی.

همچنین ارشاد دیگری از ارشادات رسول الله صلی الله علیه وسلم است که: «وعن ام المؤمنين جويرية بنت الحارث رضي الله عنها آن النبي صلى الله عليه وسلم، دخل عليها يوم الجمعة و هي صائمة، فقال: «أصمت امس؟» قلت: لا ، قال :«تريدين ان تصومي غداً؟» قالت: لا قال: «فافطری» (رواه البخاري)

ترجمه: از ام المؤمنين جويرية بنت الحارث رضي الله عنها روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم روزه جمعه بروی داخل شد در حالیکه روزه داشت، فرمود: آیا دیروز روزه گرفتي؟ گفت نه، گفت آیا میخواهي که فردا روزه بگیري؟ گفت نه ، فرمود: پس روزه ات را بکشا.

آحادیث و ارشادات فوق میرساند که خاص نمودن روز و یاشب جمعه برای عبادت بر وفق نبوده بلکه از آن منع شده است.

و اما در باره پرسش دوم شما از کتاب ریاض الصالحین ترجمه آقای عبدالله «خاموش-هروی» استفاده می نمایم:

ارشاد پیامبر صلی الله علیه وسلم است که میفرماید: «عن ابن

عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «ان الله تعالى ينهاكم ان تحلفوا بابائكم، فمن كان حالفا فليحلف بالله او ليصمت» (متفق عليه) و في رواية في الصحيح، فمن كان حالفا فلا يحلف بالله او ليصمت» وفي رواية في الصحيح فمن كان حالفاً فلا يحلف إلا بالله او ليسكت».

ترجمه: از ابن عمر رضي الله عنهما روايت است كه پيامبر صلى الله عليه وسلم فرمود: خداوند شما را منع ميكند از اينكه به پدران تان سوگند بخوريد، پس كسيكه بايستى سوگند ياد كند پس بايد به خداوند سوگند خورد يا خاموش شود.

و در روايتي صحيح آمده كه پس آنكه سوگند ياد ميكند بايد جز به خدا سوگند نخورد و يا سكوت نمايد.در حديث ديگرى آمده: «وعن عبدالرحمن بن سمرة رضي الله عنه قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تحلفوا بالطواغي و لا بابائكم» (رواه مسلم)

ترجمه: از عبدالرحمن بن سرة رضي الله عنه روايت است كه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: به بتها و پدران تان سوگند مخوريد، و در روايت غير مسلم آمده كه بالطواغيت جمع طاغوت و آن عبارت از شيطان وبت است.

همچنين در حديث ديگرى ميفرمايد: «عن بريدة رضي الله عنه انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «من حلف بالامانة فليس منا» (حديث صيحيح- رواه ابوداؤد باسناد صيحح)

ترجمه: از بريدة رضي الله عنه روايت است كه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: آنكه سوگند به امانت خورد از ما نيست.

برادر عزيزا ما براى روشنى مسئله ارشادات سردار كونين صلى الله عليه وسلم را براى رهنمائى آنعده برادراني كه دانسته و يا ندانسته به همچو قسمها عادت دارند بيان نموديم، تا باشد طبق مثل فارسي «كه اگر كس است يك نكته بس است» رهنما باشد او اين عادت درشت و نا پسند را بگذارند، اولاً قسم خوردن و عادت نمودن بآن كار خوبي نيست، ثانياً قسم بغير از خدا خوردن از اقوال شركيه مى شود خداوند همه مسلمانان را از همچو اخلاق و عادات ناپسند و خلاف سنت مطهر نگهدارد باميد نامه هاى ديگر شما.

(اداره)

حضرت سعيد بن عامر (رضي الله عنه)

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د عبد الغفار ژباړه

حضرت سعید بن عامر د زرگونو ځوانانو له جملې څخه یو تن هغه بنایسته ځوان ؤ چې د قریشو د سردارانو په دعوت د مکې معظمې هغه اوچت ځای (تنعیم) ته صرف پدې وجه دعوت کړای شوی ؤ چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یو جلیل القدر صحابي حضرت خبیب بن عدي(رضی الله عنه)د شهادت ننداره په خپلو سترگو له نژدې څخه وگوري، کوم چې قریشو په چل نیولی ؤ.

مستی او مظبوطی ځوانۍ هغه ددې جوگه کړی ؤ چې د خلکو په اوږو باندې ځان د ابوسفیان بن حرب او صفوان بن امیه او نورو قریشی سردارانو په څنگ کې ودروی .د ده نه علاوه د عربو نور زلمیان هم وو چې پدغه موقع په لومړی قطار کې ولاړ وو.

هغه ته دا موقع تر لاسه شوه چې د قریشو دغه قیدی په خپلو سترگو ووینی، هغه داصحنه هم ولیدله چې ښځې،ماشومان او ځوانان حضرت خبیب د مرگ لوری ته راکاږي. هغوی خپل دغه قیدی پدې وجه په شهادت رساوه چې د بدر په غزا کې د خپل شکست او رسوائی انتقام د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له دغه ملگري نه واخلي.

کله چې هغوی خپل دغه قیدی هغه مقام ته راورساوه کوم چې له وړاندې نه د هغه د شهادت لپاره انتخاب کړای شوی ؤ، نو پدغه وخت کې دغه مظبوط او غښتلی ځوان (سعید بن عامر)د حضرت خبیب په لور وکتل چې د قریښو سردارانو هغه په رابنکلو رابنکلو د دار د تختې په لور بوتللو.هغه د ښځو او ماشومانو په شور او چغو کې یو له رعب او دبدبې نه ډك آواز واورید، دغه آواز د حضرت خبیب(رضي الله عنه) ؤ چې خلکو ته ئې وویل: ای خلکو ! که ممکنه وی نو ماته د مرگ نه وړاندې د دوه رکعتو لمونځ کولو مهلت راکړئ.

بیا سعید بن عامر وائی ما ولیدل چې خبیب (رضی الله عنه) د کعبې په لور مخ کړ او دوه رکعته لمونځ ئې اداء کړ. دا دوه رکعته لمونځ دومره بنایسته او مکمل ؤ چې زه ئې حیران کړم، د لمانځه نه وروسته حضرت خبیب(رضي الله عنه) د قریشو د سردارانو په لور مخ کړ او وئې فرمایل! په الله مې دې قسم وی که چیری زما سره دا فکر نه وائی چې ستاسوپه نزد خبیب د مرگ له ویرې نه لمونځ اوږدوی، ما به دا لمونځ ډیر زیات اوږد کړای وائی.

بیا حضرت سعید(رضی الله عنه) په خپلو سترگو ولیدل چې د قریشو سرداران حضرت خبیب(رضی الله عنه) په ژوندینی حالت کې مثله کوی. دغو ظالمانو د حضرت خبیب(رضی الله عنه) د وجود یوه یوه ټکړه پرې کوله او ورته به ئې ویل، که ستا خوښه وی مونږ به ستا پر ځای حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ته دا تکلیف ورسو ؤ او ته به بچ پاتی شې.

پداسی حال کې چې د حضرت خبیب(رضی الله عنه) د وجود نه

وینو داری وهلی ځواب ئی ورکړ. زما دی په الله قسم وی چی زه به هیڅ کله دی ته تیار نه شم چی زه دی د خپل اهل وعیال سره آرام ناست یم او د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په وجود کی دی یو ازغی قدری هم لاړ شی.

بیا سعید بن عامر وکتل چی خلکو خپل لاسونه اوچت کړی او چغی وهی چی دا سری مړ کړئ ،دا سړی مړ کړئ.وروسته خبیب(رضی الله عنه) د دار په تخته د آسمان په لور وکتل او دا دعا ئی کوله: الهی! دی ټولو ظالمانو ته د دی ظلم بدله ورکړی او پدوی کی هیڅ څوك هم معاف نکړی. دا ئی وویل او د ژوند آخری ساه ئی ورکړه او ټول مبارك وجود ئی د تورو او نیزو ګذارونو ټوټی ټوټی کړی ؤ.(رضي الله عنه)

قریش له دغی واقعی نه وروسته مکی ته راغلل او د ورستنیو سختو جګړو په وجه ئی د حضرت خبیب(رضی الله عنه)د شهادت واقعه بلکل هیره کړه. خو د حضرت سعید(رضی الله عنه) له زړه نه یو ساعت هم د حضرت خبیب د شهادت صحنه نه هیریدله، چی ویده به شولو نو هغه منظر به ئی سترګو سترګو ته کیده او چی وینښ به شو نو داسی احساس به ئی کولو چی حضرت خبیب(رضي الله عنه) د دار په تخته ولاړ دوه رکعته لمونځ کوی ، د هغه آه او فریاد به ئی په غوږونو کی انګازی کولی او هغه وخت به وریادیده چی خبیب(رضي الله عنه) د قریشو خلاف الله تعالی ته د تباهی سوالونه کول او دغه وجه وه چی د حضرت سعید(رضي الله عنه) زړه رپیده او ویل به ئی که چیری د خبیب(رضي الله عنه) ښیراوی د قریشو په حق کی قبولی شی نو له آسمانه به په مونږ کانی راوریږی او تباه به شو.

د حضرت خبیب(رضی الله عنه) شهادت سعید ته داسی د عبرت سبق ورکړ چی مخکی له دی نه ورته هیڅ علم نه ؤ هغه ئی پدی پوه کړ چی حقیقی ژوند یوه ښه عقیده ده او پخپله عقیده تر مرګه مظبوط ودریدل پخپل ذات کی جهاد دی.دویم دا چی هغه ته د دی واقعی نه دا سبق هم حاصل شو چی یو پوخ او مظبوط ایمان داسی کردار منځ ته راولی چی په عام حالت کی نه شی ظاهریدی.برسیره پدی هغه ته دا حقیقت هم څرګند شو چی د هغه شخصیت لپاره د کوم لپاره چی د ده ملګری قربانئ ته تیار دی، بی شکه هغه د الله تعالی ریښتینی رسول دی. او همدغه سوچ ؤ چی الله تعالی د سعیدبن عامر(رضي الله عنه) سینه د اسلام لپاره برسیره کړه او د قریشو په عام مظهر کی ئی په جهر اعلان وکړ چی نن زه د بت پرستئ د ناوړه عبادت نه پاك او د بی اختیاره بتانو نه خپل مخ راګرځوم او د یو واحد لاشریك رب په وړاندی سر په سجود شوم او د نن نه وروسته زه یو مسلمان یم.

په اسلام باندی له مشرف کیدلو نه وروسته حضرت سعید بن عامر په مکه کی استوګنه پریښوده او مدینی ته ئی هجرت وکړ او د پیغمبر حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) د ملګرتیا او صحبت شرف ئی حاصل کړاو د حضور صلی الله علیه وسلم سره ئی په خیبر او نورو غزواتو کی برخه واخیسته.

کله چی حضورصلی الله علیه وسلم له دی فانی دنیا نه رحلت کولو نو د حضرت سعید(رضي الله عنه) له خدماتو نه ډیر زیات خوشحاله ؤ. د حضور صلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته حضرت سعید(رضی الله عنه) له حضرت ابوبکرصدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهم سره په هر میدان کی ډیر په میړانه او سربښندنه ولاړ ؤ.

حضرت سعیدبن عامر داسی ژوند تیر کړ چی د راتلونکو نسلونو د پاره او خصوصاً د اسلامی امت لپاره یونه هیریدونکی باب ثابت شو،هغه دنیا ته

شا کړه او دالله تعالی رضا ئی د خپلو خواهشاتو په مقابل کی مقدمه وګڼله.

حضرت ابوبکر صدیق اوحضرت عمر فاروق(رضی الله عنهم)دواړه د سعید بن عامر له صداقت،تقوا او ایمانداری، نه په ښه شان واقف ؤ.او دغه وجه وه چی دهغه نصیحتونه به ئی په ډیر غور اوریدل او غوږ به ئی ورته اینښوده.کله چی حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د مسلمانانو له خواد خلیفه په حیث انتخاب شو نو حضرت سعید بن عامر(رضي الله عنه) ورته وفرمایل! ای عمره! زه تاته دا مشوره درکوم چی د خلکو معاملی به په ښه شان او پوره انصاف سرته رسوی او د حق په ویلو به د مخلوق نه ویره نه کوی. بل دا چی په خپل قول او فعل کی تضاد مه پیدا کوه، ځکه چی د انسان بهترینه وینا هغه وی چی کردار د هغه د وینا تصدیق وکړی.

ای عمره! الله تعالی چی ته د کومو مسلمانانو خلیفه ګرځولی. ئی، نو د هغوی معاملاتو ته په ښه شان سره توجه وکړه او د هغوی لپاره هغه څیز انتخاب کړه کوم چی ته ئی د خپل اهل وعیال له پاره خوښوی، د حق په لاره کی به درته مشکلات پیدا کیږی، لیکن ته به دغه مشکلاتو ته د فولادی غره په څیر مظبوط ودریږی او ویره او ترهه به په زړه کی نه راولی او د هیڅ یو ملامت کوونکی د ملامتیا پروا به نه ساتی.

حضرت عمر(رضی الله عنه) ورته په ځواب کی وفرمایل. ای سعیده! څوك به دا ذمه واریانی پوره کړی؟ سعید(رضی الله عنه) ورته وفرمایل! ته د دی خبرو اهل ئی،ځکه چی الله تعالی د محمدصلی الله علیه وسلم په امت کی داسی خلك پیدا کړی چی د دغه امت سرپرستی به کوی او ته داسی یو انسان ئی چی الله تعالی ستا نه زیات نور څوك د دی مستحق نه وینی.

په دغه وخت کی حضرت عمر(رضی الله عنه) سعید بن عامر ته د امداد دعوت ورکړ، تر څو په دغه کار کی سعید بن عامر هم دده مرسته وکړی او ورته ئی وویل چی زه تاد«حمص» د والی په حیث مقرروم. هغه ورته په ځواب کی وویل:

ای عمره! الله ته وګوره چی ما پدی آزمایښ کی رانه ولی. حضرت عمر خواشینی شو او وئی فرمایل: ډیره افسوس خبره ده چی د خلافت بوج یواځی په ما اینښودل غواړی او خپل ځان تری خلاصوی؟

حضرت سعید(رضي الله عنه) ورته وویل! نه په الله می دی قسم وی زه تایواځی نه پریږدم او همدا وه چی سعید بن عامر د «حمص» د والی په حیث مقرر شو. څه وخت چی سعید(رضی الله عنه) د «حمص» په لور روانیده، نو حضرت عمرفاروق(رضی الله عنه) ورته وفرمایل! که ستا خوښه وی مونږ به ستا لپاره لږه شان معاوضه مقرر کړو؟ حضرت سعید (رضی الله عنه) ورته ځواب ورکړ. ای امیرالمؤمنینه! زه په معاوضه څه کوم؟ کوم څیز چی ماته د بیت المال څخه راکول کیږی هغه زما لپاره کافی دی، دا ئی وویل او د «حمص» په لور رهی شو.

څه موده وروسته د«حمص» د اوسیدونکو یو وفد د امیرالمؤمنین حضور ته د ملاقات په غرض راغلل. امیرالمؤمنین هغوی ته وفرمایل تاسو مهربانی وکړئ ماته د خپلی سیمی د هغو نادارو او مفلسو خلکو نومونه راپه ګوته کړئ چی زه ئی مالی امداد وکړم. دغو خلکو د سیمی د نادارو او غریبو خلکو یو لست تیار کړ. پدغه لست کی د سعیدبن عامر(رضي الله عنه) نوم د ټولو غریبو او نادارو په قطار کی اول ؤ.

امیرالمؤمنین چی لست وکتلو نو پوښتنه ئی وکړه، کوم سعیدبن عامر؟ هغوی ځواب ورکړ، زمونږ والی! امیرالمؤمنین ورته بیا وویل: ستاسو

والی مفلس دی؟ وفد ورته په ځواب کی وویل هو صاحبه! زمونږ دی په الله تعالی قسم وی چی څو څو ورځی د هغه په کور کی اور قدری هم نه بلیږی او نه ورکره د رزق درك لګیږی.

پدی خبره امیرالمومنین دومره ژړا وکړه چی مبارکه ګیره ئی په اوښکو لمده شوه. پاڅیده او زر دیناره ئی هغه وفد له ورکړل او ورته ئی وویل چی سعیدبن عامر ته به زما سلام ورسوئ او ورته به ووائی چی امیرالمؤمنین دا رقم تا له رالیږلی دی، تر څو خپل ضرورتونه پری پوره کړی.وفد چی کله حضرت سعید(رضی الله عنه)ته پیسی ورکړی،نو سعیدبن عامر(رضی الله عنه) ډیر زیات خواشینی شو، د پیسو بوجګۍ ئی ګذار کړه او وئی ویل: انالله وانااليه راجعون.

حضرت سعید دومره خفه شو چی د کور خلکو ئی دا ګمان وکړ چی ګوندی څه لویه واقعه شویده.میرمنې ئی ورته وویل څه واقعه شوی؟آیا امیرالمؤمنین وفات شوی؟ځواب ئی ورکړ نه، داسی نه ده.بیا ئی تری پوښتنه وکړه!آیا مسلمانانو په کوم جنګ کی شکست کړی؟ هغه ورته په ځواب کی وویل: ددئ نه هم لویه واقعه شویده.

میرمنې ئی وویل نو بیا څه واقعه پیښه شوی چی ته دومره خفه ئی؟ هغه ورته په ځواب کی وویل:انن زما کور ته دنیا راغلله تر څو زما آخرت خراب کړی او زما په کور کی یوه فتنه پیدا کړی، میرمنې ئی ورته وویل نو بیا د دغی دنیا نه ځان خلاص کړه ، میرمنی ته ئی د دی هیڅ.معلومات نه ؤ چی ګوندی امیرالمومنین ورته پیسی رالیږلی دی.

بیا حضرت سعید (رضی الله عنه) خپلی میرمنی ته وویل: آیا ته حاضره ئی چی پدی معامله کی زما مرسته وکړی؟ هغی ځواب ورکړ، ولی نه.

بیا ئی په پوره حالاتو خبره کړه او وروسته ئی دغه دینارونه په غریبو او نادارو خلکو تقسیم کړل.

څه موده وروسته امیرالمومنین «حمص» ته تشریف یوړو، پدغو ورځو کی د «حمص» اوسیدونکو لکه د کوفی د اوسیدونکو د خپلو والیانو نه شکایات درلودل. کله چی د حضرت عمرفاروق (رضی للله عنه) د ملاقات لپاره خلك راغلل نو د نورو خبرو په ترځ کی ئی تری پوښتنه وکړه. والی مو څنګه دی؟ نو یو دم خلکو د خپلو شکایاتو دفترونه پرانستل.

او پدغه ډول ئی څلور شکایتونه امیرالمومنین ته وړاندی کړل.

حضرت عمر(رضی الله عنه) فرمائی چی ما والی او خلك (عوام) یو ځای راوغوښتل او الله تعالی ته می دا سوال وکړ چی یا الله! د سعیدبن عامر په باره کی زما ګمان درواغجن نکړی، ځکه زما په هغه باندی ډیر زیات اعتماد دی.سحر کله چی والی او عام خلك د امیرالمومنین حضور ته وړاندی شول، نو د خلکو نه ئی پوښتنه وکړه، ووائی د والی په هکله څه شکایت لرئ؟هغوی وویل:

سعیدبن عامر خپل کار ته ډیر ناوخته له کور څخه راوځی. امیرالمومنین له حضرت سعید نه پوښتنه وکړه د دی شکایت څه دلیل درسره شته؟

سعیدبن عامر(رضي الله عنه) څه ساعت غلی ؤ او بیا ئی ځواب ورکړ. په الله می دی قسم وی چی مانه غوښتل پدی باره کی څه ووایم، خو اوس د حقیقت له ښکاره کولو نه غیر بله چاره نشته . هغه خپل حال داسی بیان کړ چی زما سره په کور کی د کار کتولو«خادم» نشته،زه چی کله سحر وختی پاڅم اوړه واغږم بیا څه وخت انتظار وکړم چی اوړه خمبیره

شی بیا دودی پخوم بیا اودس وکړم ، وروسته بیا د خلکو د خدمت لپاره بهرته راوځم.

امیرالمومنین د خلکو نه د دوهم شکایت پوښتنه وکړه.هغوی وویل. سعید دشپې له چاسره ملاقات نه کوی. امیرالمومنین دسعید نه پوښتنه وکړه پدی باره کی څه ویل غواړی؟

حضرت سعید ځواب ورکړ! په الله مې دی قسم وی چی زه دا هم نه غواړم چی ښکاره شی خو مختصر به دا ووایم چی ما ورځ د خلکو د خدمت او شپه می د الله تعالی د عبادت لپاره وقف کړیده، ځکه زه تموله شپه دالله تعالی عبادت کوم او د خلکو د ملاقات راسره هیڅ وخت نه وی.

امیرالمومنین بیا د خلکونه پوښتنه وکړه،څه نور شکایات شته؟ هغوی وویل! چی سعید په میاشت کی یوه ورځ بلکل له کور څخه بهر نه راوځی.

ددی شکایت په باب حضرت سعید وفرمایل. ای امیرالمؤمنینه! زما سره په کور کی خادم نشته اونه بله جوړه کالی لرم چی هغه راته ووینځی، کوم کالی چی ما اوس اغوستی زه دا کالی په میاشت کی یو ځل پری مینځمه او چی وچی شی نو وائی غوندم او د ورځی په آخر کی د خلکو سره ملاقات وکړم.

امیرالمومنین د خلکو نه د څلورم شکایت په باب پوښتنه وکړه، هغوی وویل!کله چی سعید په مجلس کی ناست وی نو ناڅاپه ورباندی داسی حالت راشی چی د هیچا سره خبری نه کوی او د مجلس د خلکو سره ځان لاتعلقه کړی.

حضرت سعید(رضی الله عنه) په ځواب کی وویل! ماد حضرت خبیب(رضي الله عنه) د شهادت واقعه په خپلو سترګو لیدلی ده، مالیدل چی قریشو به د حضرت خبیب له وجود نه غوښی پریکولی او ورته به ئی ویل، چی ستا دا خوښه نده چی ستا په ځای مو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته دا تکلیف رسولی وائی او ته د خپل اهل وعیال سره ژوندی پاتی وی؟ حضرت خبیب ورته په ځواب کی وویل! زما دی په الله قسم وی چی زه به هیڅ کله دی ته تیار نشم چی زه دی د خپل اهل واعیال سره ژوندی پاتی شم او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وجود کی دی یو اغزی قدری هم لاړشی. حضرت سعید وویل چی هغه ورځ ماته سترګو ته کیږی او دا سوچ او فکر کوم چی ما ولی په دغه وخت کی د هغه مرسته ونکړای شوه.

دا خبری چی حضرت عمر(رضی الله عنه) واوریدلی نو وئی فرمایل!

زه د الله تعالی ډیر زیات مشکور یم چی د سعید په باره کی ئی زما نیك ګمان غلط ثابت نکړ. امیرالمؤمنین وروسته زر دیناره دده کور ته واستول چی خپل ضرورتونه پری پوره کړی، کله چی دغه دینارونه د حضرت سعید(رضی الله عنه) میرمنی ولیدل نو وئی ویل چی لاړ شه او د کور لپاره څه ضروری څیزونه واخله او یو خادم هم راوله چی د کور کارونه کوی.

حضرت سعید(رضی الله عنه) ورته وفرمائل! آیا زه تاته داسی تحفه درنکړم چی د دی دینارو نه هم بهتره وی؟ هغې ځواب ورکړ ولی نه.

حضرت سعیدبن عامر(رضی الله عنه) وفرمائل! راځه چی دا دینار الله تعالی ته د قرض حسنه په توګه ورکړو او وروسته ئی دغه دینارونه په کونډو، یتیمانو او نادارو خلکو تقسیم کړل.(رضی الله عنه)

دنبوي ملغلرو اميل

تن بسي

د نابالغ هلك لپاره دعا:

اَللّٰهُمَّ اجعلهُ لَنَا سلفًاوّفَرطًاوّ ذُخراً وّاَجراً (مشکوة باب المشي بالجنازه والصلاة عليها فصل اول)

ترجمه الهي! دا هلك زمونږ لپاره مشل او د اجر سبب وګرزوي.

که مړي هلك وي نو د فاتحي سورة ولولي او دريم تکبير نه وروسته هم دا ولولئ.

قبر ته د مړي د ښکته کولو دعاء:

له حضرت ابن عمر(رضي الله عنه) نه روايت دي چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم مړي قبر ته ښکته کاوه نو دا دعاء به ئي لوستله:

بِسمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰه وَعَلٰی مِلة رَسُولِ اللّٰهِ-(مشکوة باب دفن الميت فصل دوم)

ترجمه: د الله په نوم او د هغه له نوم سره ئي د رسول الله(صلى الله عليه وسلم)په طريقه ئي ښکته کوم.

دمړي له دفن کولونه وروسته:له حضرت عثمان(رضي الله عنه) څخه روايت دي چي رسول الله(صلي الله عليه وسلم) مړي ښخ کړ نو هلته به لږ ودريده اوخپلو اصحابو ته به ئي وفرمايل! د خپل ورور لپاره استغفار وکړئ اودهغه په ايمان باندي دثابت پاتي کيدو دعاء وکړئ،ځکه چي اوس له هغه څخه سوال کيږي.(مشکوة باب اثبات عذاب القبر فصل دوم)

د قبرونو د زيارت په وخت کي دعا:

له حضرت بريره(رضي الله عنه) څخه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به د قبرونو د زيارت په وخت کي داسي ويل.

اَلسّلَامُ عَلَيکم اَهلَ الدِيارِ مِنَ المُوٴمِنِينَ وَالمُسلِمِين وَاِنَّااِن شَآءَاللّٰه بِکُم لَاَحِقُونَ نَسالُ اللّٰهَ لَنَاوَلَکُمُ العَافِيَةَ»

(مشکوة باب زيارة القبور فصل اول)

ترجمه:اي د قبرونو اوسيدونکو پر تاسي دي سلام وي.که الله کول موږ به هم تاسي ته راشواو مونږ د تاسي ټولو لپاره خير غواړو.

د استخارى دعاء:

له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چی رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د استخارى دعا داسی راوښودله څنګه چی د قرآن مجيد کوم سورت وی،

(۳۸) کنه

که دچا کوم حاجت وی نو دوه رکعته لمونځ دی وکړی نو دا دعا دی ولولی او دخپل حاجت نوم دی واخلی.

«أللهم إني أستخيرك بعلمك و أستقدرك بقدرتك و أسئلك من فضلك العظيم.فإنك تقدر ولا أقدر و تعلم ولا أعلم و أنت علاّم الغيوب أللهم إن كنت تعلم أن هذا الأمر خير لي في دين و معاشي و عاقبة أمري فاقدره لي و يسره لي ثم بارك لي فيه و إن كنت تعلم أنّ هذا الأمر شر لي في ديني و معاشي و عاقبة أمري فاصرفه عني واصرفني عنه واقدره لي الخير حيث كان ثم أرضني به».

ترجمه: اي الله! زه له تا څخه ستا د علم په واسطه خیر غواړم او د ستا د قدرت په برکت طاقت غواړم او له تا لوی فضل غواړم ځکه چي ته زوروور ئی او زه کمزوری یم ته پوه او زه ناپوه یم او ته په پټو شیانو خبر ئی. ای الله که چیری ستا په علم زما دا کار ښه وی. نو زما لپاره ئی په دین او دنیا او د کار انجام اسان کړه او ماته برکت راکړی که چیری په دین او دنیا دا کار زما لپاره ښه نه وی نو دا را څخه لری کړی او ما هم ور څخه وساتي او هر چیری راته خیر پیښ کړی او ما پری راضي کړی.

د حاجت دعاء:

له حضرت عبدالله بن ابي اوفی څخه روایت دی چی رسول‌الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چاته کوم حاجت د الله تعالی له لوری پیښ شی یا له کوم سړی سره ئی کار وی دا دعا دی ولولی: «لا إله إلا الله الحليم الكريم سبحان الله ربّ العرش العظيم. والحمد لله رب العالمين أسئلك موجبات رحمتك و عزائم مغفرتك و الغنيمة من كل بر والسلام من كل إثم لا تدع لي ذنباً إلا غفرته و لا هماً إلا فرجته ولا حاجةً هي لك رضاً إلا قضيتها يا أرحم الراحمين». الحديث.

ترجمه: له الله نه پرته بل څوك د عبادت وړ ندی هغه حلیم او لوی دی پاك دی رب دی، زه سوال کوم ستا د رحمت اسبابو او د بخښش د سامان او د هری نیکۍ د حصي او سلامتیۍ له هری ګناه څخه زما ټولی ګناوی را وبخښني، زما ټولی اندیښني لری کړی ټول حاجتونه می پوره کړی ای تر ټولو زیات رحیم دبه.

د جنګ په وخت کی دعاء:

له حضرت ابو سعید بن خدری رضي الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق په جنګ دا دعا لوستله: «اللهم استر عوراتنا و امن روعاتنا»

ترجمه: یا الله جل جلاله زمونږ عیبونه لری کړی او له ویری نه مو وساتي.

دغمجن دعاء:

له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت دی: چی رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: چی غمګین دی دا دعا ولوي: «اللّهم رحمتك أرجو فلا تكلني إلى نفسي طرفة عين و أصلح لي شأني كلّه لا إله إلا أنت»

ترجمه: الله! زه ستاد رحمت امید لرم ما یوه ګړۍ هم خپل نفس ته مه سپاره یعني‌درحمت لاس را نه مه اوچتوه زما حالت ښه کړه له تا پرته بل څوك دعبادت وړ ندی.

د دیني طالبانو د اصلاحي تحریک اعلامیه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبي بعده:

قال الله تعالى: «ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير....»

د کونړونو ولایت ډیر قدرمن او مسلمان ولس ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

عزتمندو مسلمانانو! مونږ د کونړونو ولایت اوسیدونکي او ددیني سپیڅلي علم زده کوونکي ستاسي بچیان د خپل زده کړي شرعي، دیني مسؤلیت او د افغاني پت په بناء د اسلامي انقلاب د زانګو د کونړونو ولایت په هرګوټ کی د روانو ناوره حالاتو د اصلاح پخاطر ستاسو په اخلاقي مرستو غواړو چی خپل شرعي مسؤلیت د الله تعالی او ددی ولایت دقربانی شوو شهیدانو او مجاهد پرور ولس په وړاندی تر سره کړو، د افغانستان روانو کړکیچنو حالاتو زمونږ د قهرمان مجاهد ولس هغه سرونه او هسکی شملی چی د افغانستان د مقدس جهاد د بی شمیره قربانیو په برکت پورته وی، نن بد بختانه ښکته کړی دی.

د یو واقعي او غمخور مسلمان په صفت دا د ټول مجاهدولس دیني او ایماني ذمه واری ده چي د خپل استعداد په اندازه دروانو المناکو حالاتو د ښه والی په لور ګامونه اوچت کړی. دکونړ ولایت د جهاد لمړنی‌زانګو دسید جمال الدین اسد آبادي او شهید جمیل الرحمن رحمه الله تاتوبي د فتحي او بری لومړی باب او د اصلاحي تحریك لومړني مدرسه ده او له همدی ځایه نیك او استکبار ځپونکی خوځښتونه پیل شوی چی بالآخره په ټوله نړۍ کی یی یو حیرانونکی بدلون راوست او د شرق د زبر ځواك کمونستي امپراطوری یی د نړۍ‌له نقشي څخه محوه او تنسیخ کړه.

نن په ډیر افسوس سره وایو چی دیو شمیر لارو ورکو په سبب زمونږ او ستاسی دشهیدانو په قربانیو هغه ګټلی ویاړونه او هسکی شملی د خاورو سره خاوری شوی او زمونږ دشهیدانو حاصل

ئی د څو تکو په خاطر په پاټکونو او د بي بندوباره عناصرو په لاس ښکار شی. او ددی ولایت دمسلمان او شریف ولس نه غوښتنه کوو چی د دا ډول غلو او ډاکوانو د اصلاح په لار کی د خپل دغو مسؤلیت پیژندونکو بچیانو سره ملګرتیا خپله فریضه وګڼي. مونږ د الله تعالی د کمك په تکیه باوری یو که د کونړ دمسلمان ولس اخلاقي مرسته را سره وی، مونږ په دی لاره کی دبری ساحل ته انشاء الله رسیدونکی یو. مونږ په تشو لاسونو مګر په قوی ایمان او عزم ددغه شرم آور او ناروا تورو تاریخي داغونه د لیري کولو پوخ تکل او اراده کړی ده، مونږ په دی امید یو چی دغه غله او ډاکوان لومړی د عقل او هوش په احساس خپلو ناروا اعمالو ته متوجه شی او له الله تعالی څخه دی وویریږی او د اصلاحي تحریك سره دی پدی لاره کی مرسته وکړی دوي باید پوه شوی وی چی که نن ستا په پاټك کی د مسلمان عفت او عزت لیلامیږی نو سبا به هم ستا په کوم بل پاټك باندی لاره شی نو غوره داده چي د خپل عزت او عفت د تحفظ لپاره د نورو احترام وکړئ او نور ددغه ناوړه اعمالو څخه لاس په سر شئ او دپخوانیو کړو د الله تعالی څخه او د کونړ د مسلمان ولس څخه بخښنه وغواړئ.ددغه ډول ناروا پاټکونو څخه یوازی دغه لاندی ډول مصایب منځته راتلاي شی او بس:

۱- د الله تعالی او مسلمان ولس دښمنی.

۲- د شریفو او عزتمندو مسلمانانو تعذیب او نا آرامي.

۳- فتني او فسادات په ټولنه کی اچول او مسلمان وژنه.

٤- داسلامي اداري او امیر څخه سر غړونه او بغاوت.

٥- جاهلي او قبایلي نظامونو ته وده ورکول.

٦- په سیمه کی ګډوډی او بي نظمي پیدا کول.

۷- د مقدس جهاد د لکونو شهیدانو د قربانیو حاصل او ثمره بربادول.

۸- دبیا آبادی کارونه په ټپه ودرول.

۹- دنړیوالو مخ ددی ملك دآبادي څخه اړول.

۱۰- دمسلمانانو میندو او خویندو بي عفتي او سپکاوي.

والســــــلام

(ستاسو بچیان ددیني طالبانو اصلاحي تحریک)

ستاسو ليك راورسيد

دعوت مجله- پوست بكس نمبر٦١٤ جي پي او پشاور پاكستان

د مردان جامعة إسلامية تفهيم القرآن څخه، كفايت الله مؤمن دوست او برهان الدين وورنه:
محترم ددعوت مجلى مدير صاحب!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ستاسو كاميابى او صحتمندي له رب العزت څخه د تل لپاره غواړم.

محترم: ددعوت مجلى د مضامينو لوستل د ايمان تقويت او د قرآن او حديث په مسلك د ثابت قدمي پيغام راكوى، د سيد الشهداء شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) ويناگاني او خطبات ددى خبرى زيرى راكوى چى د همدى جد او جهد او كوښښ په وجه به د دعوت لړى انشاء الله ددنيا گوټ گوټ ته ورسيږى او د «وأطيعوا الله و أطيعوا الرسول» او د سلفي عقيدي جرړى به هر ځاى مضبوتي او خپرى شي.

محترم: دشهيد شيخ (رحمه الله) يو څو بيانات مونږ ته معلوم دى، كه دا نشر كړى ډيره به ښه وى.

والسلام

****

د دار القرآن الكريم- پيښور څخه لطف الله «توحيديار» او شاكر الله وورنه ليكي:

محترم ددعوت مجلي كار كونكو! مسنون سلامونه او آداب عرض كوو!

عزتمندو! ددعوت مجله لولو، ډير ښكلى او په زړه پورى مضامين لرى مگر په تأسف سره بايد ووايو چى د مينوالو لاس ته اول خو نه رسيږى او كه ورسيږى؛ ډير وخت پري تير شوى وى. زما مشوره ده چى په دى لړ كى كه لږ كوښښ وكړئ دا به ډيره ښه شى، دا به ددعوت د مجلى مينوالو سره ستاسي لويه همدردى او مينه وى. مونږ پدى اميد يو چى دار القرآن الكريم پيښور ته به زمونږ لپاره يو څه تعداد مجلى راواستوئ چى دلته ددى مجلى زيات شايقين دي. په درناوى

بشير احمد ورور دمندی احمد آباد –ضلع اوکاړه:
دي ورور خپل خط په اُردو ژبه کی لیکلی دی.
ددعوت مجلي د مدير په نوم د سلامونو وروسته ليکی چی:
څه وخت وړاندی می په اتفاقي طور ددعوت مجله وليدله، تاسو يقين وکړئ چی ډير زيات خوشحاله شوم، د مجلی د سر پاڼی د ښکلا سره سره ئی مضامين ډيرعلمي او ايمان افروز دی. د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة سره زما ديني او عقيدوی تعلق دي.
څرنگه چی ما دلته د «اهلحديث يوتهـ فورس» تر اهتمام لاندی يوه وړيا سلفي لايبراری (کتابتون) ددار المطالعه په نوم جوړ کړيدی تاسو ته عرض دی چی ددعوت مجلي په اعزازي جاری کيدلو به زمونږ لوستونکی خوشحاله او مستفيدکړئ.

والســـــــــلام

****

ددعوت مجلي درنو او قدرمنو لوستونکو!

ستاسو له خوا راليږل شوی ليکونه زمونږ تر ميز راورسيدل، سلامونو ته مو وعليکم السلام او د مجلی په باب مو د نيکو نظرياتو او هيلو مننه او قدردانی کوو!
د مردان جامع اسلاميه تفهيم القرآن کفايت الله مسلم دوست او برهان الدين ورونو!
تاسو د شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د بياناتو په هکله ليکلی دی چی يو څو ئی مونږ ته معلوم دی، مونږ ددعوت د مجلی له لاری مخکی په يوه گڼه کی هم په دی باب يو اعلان نشر کړی ؤ، چی د هر ورور سره دشيخ کوم کيسټ موجود وی يوه کاپی ئی مونږ ته راوليږئ.
که تاسو مهربانی وکړئ او ددغه کيسټونو يوه يوه کاپی مونږ ته راوليږی ډيره به ښه وی. د کيسټ په راوړلو د کيسټ معاوضه هم تر لاسه کړئ.
ددار القرآن الکريم پيښور لطف الله او شاکر الله ورونو!
که د مجلی په تر لاسه کولو کی پخپله مرسته وکړئ دا به ستاسو زمونږ سره لويه همکاری وی،، ځکه زمونږ وسايل ډير محدود دی هيله ده چی معذرت مو ومنئ.
د اوکاړی بشير احمد ورور ته هم دا وايو چی ورورہ د مجلی په تر لاسه کولو کی که پخپله باعث شی ښه به وی.

والســـــــــلام

(اداره)

نبوي ارشاد

«... حرّم على رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم خيبر اشياء ثمّ قال يوشک أحدکم أن يکذّبني و هو متکئٌ يحدث بحديثي فيقول: بيننا و بينکم کتاب الله فما وجدنا فيه من حلال استحللناه وما وجدنا فيه من حرام حرّمناه، الا انّ ما حرم رسول الله مثل ما حرم الله»

(الحديث رواه الحاکم والترمذي و ابن ماجه بسند صحيح)

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خيبر په ورځ څو شيزونه حرام کړل او بيا ئی و فرمايل: ژر دی چی په راتلونکی کی به په تاسی کی داسی کسان هم پيدا شی چی زما تکذيب به کوی، تکيه به ئی کړی وی او بيا به (له حديثو څخه د انکار په توګه په ډير غرور او عصيان سره) ووائی: زمونږ او ستاسو په منځ کی د الله تعالى کتاب (قرانکريم) موجود دی، په هغه کی چی څه حلال کړای شويدی هماغه حلال ګڼو او کوم شيزونه چی حرام کړای شوی دی هغه حرام ګڼو، (نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:) خبردار چی دالله د رسول له خوا حرام کړای شوی شيزونه کټ مټ داسی حرام دی لکه الله تعالى چی حرام کړی وی(دا حديث حسن بن جابر رضي الله عنه له مقدام بن معدي کرب رضي الله عنه نه روايت کړی دي).

د دینی طالبانو د اصلاحي تحریک اهداف او مقاصد

د ټول افغانستان مؤمن او مجاهد ولس ته په عام ډول او د کونړ ولایت ټولو مسلمانانو ته په خاص ډول دې دا معلومه وي چي زمونږ د دینی طالبانو اصلاحي تحریک په هیڅ ډول سیاسی ګوند، تنظیم، قوم او قبیلی پوری تړون نه لری، مونږ یوازی د دې جاهلی او غیر اسلامي سیستمونو چي نن یې زمونږ د ګران هیواد افغانستان مسلمان ملت بالخصوص د کونړ ولایت په ناروا قتلونو او د مسلمانانو په وینو لړلي میدان ګرځولي دي او غیر اسلامي او غیر انساني مشکلات او بحران یې منځته راوړي دي ددي ډول ناوړه حالاتو د اصلاح لپاره راپورته شوي یو او بس او لاندي اهداف او مقاصد لرو:

۱- د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس د نیکیو لور ته بلل.

۲- د شرع الله تنفیذ.

۳- د امنیت تأمین.

٤- د یووالي او اسلامي اخوت د استحکام لپاره هلي ځلي.

٥- د هر ډول اختلافاتو او تعصباتو مخنیوي او ټول دیني طالبان په یوه پلیټ فارم کي راټولول.

٦- د هر ډول ناروا اعمالو او جرایمو مخنیوي.

٧- په سوله ایز ډول د ناروا پاټکونو ختمول.

٨- د جاهلي او قبایلي نظام مخنیوي.

٩- د جهاد په قربانیو د لاسته راغلو محصولاتو ساتل.

١٠- د افغاني برم، عزت او ویاړونو ژوندي کول.

١١- د جهاد د شهیدانو، د کونډو او یتیمانو ارمانونه پوره کول.

د ټولو مسؤلیت پیژندونکو او امن خوښوونکو مسلمانانو د همکارۍ په هیله!

(ستاسو د بچیانو ددیني طالبانو اصلاحي تحریک)